د ینان په ادبي او هنري محفل کې ویناوې

د مائوتسه‌دون منتخب آثار، دریم ټوک



۱۹۴۲ کال د می میاشت

انتشارات محسن
Mohsin Publications

د ینان په ادبي او هنري محفل کې ويناوې

لیکوال: مائوتسه‌دون (منتخب آثار، دریم ټوک)

ژباړونکی: محسن خپرندویه

بریښنالیک: mohsinpubs@gmail.com

وبلاګ: http://mohsinpubs.blogspot.com

د خپروني نیټه: د کال ۱۴۰۲ د زمری / د کال ۲۰۲۳ اگست میاشت

د ینان په ادبي او هنري محفل کې ویناوې

د مائوتسه دون منتخب آثار، دریم ټوک

۱۹۴۲ کال د مې میاشت

ســریــزه

(۱۹۴۲ کال د می میاشت)

ملګرو! تاسو نن دې غونډې ته رابلل شوي یاست چې د ادبي او هنري کار او انقلابي کار تر منځ د اړیکو په تړوله کې او عمومي مفهوم په اړه خبرې اترې وکړئ. مونږ غواړو داسې وسایل چمتو کړو چې انقلابي هنر او ادب په سمه توګه وده او پرمختګ وکړي او د انقلابي کړنو نورو برخو کې ګټورې مرستې وکړي ترڅو د خپل ولس دښمن مات او ملي ژغورنې دنده ترسره کړو.

مونږ د چین خلکو د آزادۍ لپاره په بېلا بېلو جبهو کې مبارزه کوو، چې دوه یې دا دي: د قلم جبهه او د تورې جبهه، کلتوري جبهه او پوځي جبهه. د دښمن د ماتولو لپاره، مونږ باید په لومړي سر کې په پوځ تکیه وکړو، چې په لاس کې ټوپک لري. خو دا پوځ یوازې بسنه نه کوي. مونږ باید یو کلتوري اردو هم ولرو ـ داسې اردو چې زمونږ د لیکو د یووالي او د دښمن د ماتولو لپاره اړینه ده. د مې څلورمې نېټې غورځنګ

راهیسې په چین کې دغه ډول پوځ جوړ شو او د چین له انقلاب سره یې مرسته وکړه، چې په تدریجي ډول یې د چین د فیوډالي کلتور او کمپرادور کلتور سېمې چې د امپریالیستي یرغلونو اړتیاوو ځواب ویونکې وې، راکمې کړې او د هغوي ځواکونه یې کمزوري کړي دي. نن ورځ، د نوي کلتور په وړاندې د چین ارتجاع د «د کیفیت ځواب له کمیت سره» پرته بله لاره نه لري. په بل عبارت، مرتجعان ډېرې پیسې لري او د دې حقیقت سره سره چې دوی د ارزښت وړ هېڅ شی نشي رامنځته کولی، دوی هڅه کوي چې د امکان تر حده د خپلو تخلیقاتو شمیر زیات کړي. د مې د څلورمې نیټې غورځنګ راهیسې، ادب او هنر د کلتور په ډګر کې یوه مهمه او بریالۍ برخه ګرځېدلې ده. انقلابي ادبي او هنري خوځښت د لس کلنې کورنۍ جګړې په ترځ کې ډېره پراختیا او وده موندلې ده. له انقلابي جګړې سره موازي دغه حرکت په هماغه عمومي لوري پرمختګ وکړ، خو دغه دوه ورته پوځونه په خپل عملي کار کې له یو بل سره نه وو تړلي، ځکه ارتجاع له یو بل څخه جلا کړي وو. د جاپان ضد مقاومت د جګړې له پیل راهیسې، انقلابي لیکوالان او هنرمندان په زیاتېدونکي ډول د «ین‌ان» او جاپان ضد نورو جبهو ته مخه کوي، دا یوه ډېره ښه نښه ده. خو دغو اډو ته د هغوی داخلېدل په دې مانا نه دي چې دوی په بشپړه توګه په دغو اډو کې له خلکو سره یوځای شوي دي. که مونږ غواړو چې په خپل انقلابي کار کې پرمختګ وکړو، د دې دوو شیانو یوځای کول اړین دي. نن زمونږ د غونډې موخه دا ده چې ادب او هنر د عمومي انقلابي میکانیزم برخه وګرځي، د خلکو د یووالي او ښوونې او روزنې او د دښمن ځپلو او له منځه وړلو لپاره یوه پیاوړې وسله وګرځي، له خلکو سره مرسته وکړي تر څو دوی په یو زړه او یو روح له دښمن سره جګړه وکړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره باید کومې ستونزې حل شي؟ زما په اند، دا مسایل عبارت دي له: د لیکوالانو او هنرمندانو طبقاتي دریځ، د هغوی چلند، د هغوی اورېدونکي، د دوی کار او زده کړه.

د طبقاتي دریځ مسله. مونږ د پرولتاریا او د خلکو په لیکه کې یو. د کمونست ګوند د

غړو لپاره، دا پدې مانا ده چې دوی بایـد د ګوند دریځ ولـري، ځان دګوند له روح سـره سم کړي، او د ګوند پالیسـۍ سره سـمون ولـري. آیا زمونـږ د ادبي او هنـري کارګرانو په منځ کې داسې څـوک شـته چې لا هـم په دې مسـله کې روښـانه او سـم درک نه لـري؟ زه فکـر کـوم چې اوس هـم داسې خلک شـته. زمونږ ډیری ملګري اکثراْ له سـم دریځ څخه لـری کیږي.

د چلند مسـله. د ځانګړو شـیانو او پیښـو پـه اړه هـر ځانګـړی چلنـد د انسـان د طبقاتـي دریـځ څخـه راځـي. د مثال پـه توګـه: دا چې آیا سـتاینه وشـي که افشـا شـي، چلنـد پورې تړلـې مسـله ده. لـه دغـو دوو ډولونـو څخـه کـوم یـو بایـد ومنـو؟ زمـا ځـواب دا دی چې مونـږ بایـد دواړه لارې ومنـو. دلتـه مسـله دا ده چې مونږ له چا سـره مخ یـو. خلک په درې ډلـو ویشـل شـوي دي: دښـمنان، پـه متحـده جبهـه کې زمونـږ متحدیـن، او زمونـږ خپل خلـک یعنـي ولـس او د هغـوي سـرلاري. مونږ بایـد دې دریـو ډلو تـه درې بیلابیلې لارې ولـرو. زمونـږ دښـمنان، یعنـی د جاپـان امپریالیسـتان او د ولـس ټولـو دښـمنانو پـه اړه، د انقلابـی لیکوالانـو او هنرمندانـو دنده دا ده چې د دوی ځناورتوب او درواغ ښـکاره کړي او وښـيي چې دوی د ماتې پـه حـال کې دي، او پـه دې توګـه پـوځ او خلک چې د جاپان پـه وړانـدې مقاومـت لپـاره راپورته شـوي، دوی وهڅوئ چې پـه یو زړه او یو روح سـره د دښـمن لهمنځـه وړلـو لپـاره په کلکه مبـارزه وکړي. په متحـده جبهه کې زمونـږ د ډولاډول متحدینـو پـه اړه، زمونـږ چلنـد بایـد یووالـی او نیوکـه وي ــ یووالـی او نیوکـه دواړه بایـد متنـوع وي. مونـږ د جاپـان پـه وړانـدې د مقاومـت لپـاره د خپلو متحدینو مبـارزه منو او د هغـوی د لاسـتهراوړنو سـتاینه کـوو. خـو کـه دوی د مقاومـت پـه جګـړه کې فعال نـه وي، مونږ بایـد پرې نیوکې وکـړو. مونږ بایـد هـر هغـه څوک محکـوم کـړو چې د کمونسـت ګونـد او خلکـو پـه وړاندې جنګیـږي او د ارتجاع په لاره کې هـره ورځ نوي ګامونه اخلي. ښـکاره ده چې مونږ بایـد ولـس، د دوی کار، د دوی جګـړه، د دوی اردو او د دوی ګونـد وسـتایو. ولـس هـم نیمګړتیـاوې لري. د پرولتاریا په لیکو کې ډېر داسې کسـان شـته چې

لا هم خپل کوچني بورژوا افکار ساتي؛ د بزګرانو په ذهن کې او همدارنګه د ښاري وړې بورژوازۍ په ذهن کې، مونږ ډېرې وروسته‌پاتې فکرونه او نظرونه وینو. دا هغه بار دی چې د دوی لپاره جګړه ستونزمنه کوي. مونږ باید د دوی ښوونې او روزنې ته ډېر وخت او صبر ورکړو، د دې بار په لیرې کولو کې د دوی سره مرسته وکړو، د دوی نیمګړتیاوې او تېروتنې سمې کړو، ترڅو دوی د لویو ګامونو سره مخ پر وړاندې لاړ شي. دوی د مبارزې په لړ کې بیا زده‌کړې کوي یا د بیا زده‌کړې په بهیر کې دي. زمونږ ادب او هنر باید د بیا روزنې دغه بهیر وستایي. که دوی په خپلو تېروتنو ټینګار ونکړي، مونږ باید د دوی منفي اړخونو ته ډېره ګوته ونه‌نیسو او یا په غلطه پر دوي ملنډې ووهو یا آن له دوی سره دښمني وکړو. زمونږ لیکنې باید له دوی سره مرسته وکړي چې سره یوځای شي، پرمختګ وکړي، د یو واحد وجود په څېر پر مخ لاړ شي، د هغه څه څخه ځان خلاص کړي چې وروسته پاتې دي، او هغه څه چې انقلابي دي پرمختګ او تکامل ورکړي. زمونږ لیکنې باید هېڅکله اپوټه پایلې ونلري.

د اورېدونکو مسله، دا هغه کسان دي چې ادبي او هنري آثار ددوي لپاره جوړ شوي. د دغې مسلې پلان د شنسي ـ ګان سو ـ نین‌سیا په سرحدي سیمه کې او د چین په شمالي او مرکزي سیمو کې د جاپان ضد اډو کې او د ګومینډان سیمو د مسلې له پلان سره توپیر لري او د مقاومت له جګړې مخکې د شانګهای له مسلې سره هم توپیر لري. په شانګهای کې د انقلابي ادبیاتو او هنرونو اورېدونکي په عمده توګه زده کوونکي، د دفتر کارکوونکي او ښوونکي وو. دګومینډان په سیمو کې د ادبي او هنري آثارو د غوښتونکو دایره د مقاومت د جګړې له پیل وروسته یو څه پراخه شوه، خو جوړښت یې په اصل کې یو شان پاتې شو، ځکه چې حکومت هلته کارګران، بزګران او عسکر له ادبیاتو او انقلابي هنر څخه منع کول. زمونږ په اډو کې، وضعیت په بشپړه توګه توپیر لري. دلته د ادبي او هنري کارونو اورېدونکي کارګران، بزګران، عسکر او انقلابي کدرونه دي. زمونږ په اډو کې هم محصلان شته، خو له پخوانیو محصلانو سره توپیر

لـري. دوی یـا کدرونـه ول او یـا بـه پـه راتلونکي کې کدرونـه وي. بیلابیل کدرونـه، په اردو کې عسـکر، پـه فابریکو کـې کارګران او په کلیـو کې بزګران، کله چې بې لیکل او لوسـتل زده کـړل، نـو د کتابونو او اخبارونو غوښـتنه کوي. نالوسـتي خلک هم غـواړي چې تیاتر تـه لاړ شـي، انځورګـري وګـوري، سـندرې ووایـي او موسـیقي واوري. دا هغه خلک دي چې زمونـږ ادبي او هنـري آثـار ددوي لپـاره جـوړ شـوي دي. راځـئ چې د مثال پـه توګه زمونـږ کدرونـه واخلـو، فکـر مـه کـوئ چـې د دوی شـمیر لـږ دی. د دوی شـمیر د هغـه پلانکـي کتـاب لـه لوسـتونکو څخـه ډیـر دی چې دګومینډان په سـیمو کې چاپ شـوی. پـه دې سـیمو کـې دکتابونـو چـاپ معمـولاً لـه دوه زره ټوکه زیـات نه وي او کـه دوه ځلي چـاپ پـه پـام کې ونیسـو نو له شـپږ زره ټوکه نه زیاتیـږي. په هرصورت، زمونـږ په اډو کې د هغـو کدرونـو شـمیر چې په لوسـتلو پوهیـږي اوس یوازې په یـنان کې له لس زرو څخه ډیـر دی. سـربیره پـردې، ډیـری یـې تجربـه لرونکي انقلابیـان دي چې د هیـواد له بیلابیلو برخـو څخـه دلتـه راغلـي او د کار لپـاره بـه بیلابیلو سـیمو ته ولاړ شـي. په همـدې دلیل، د دوی تعلیـم خـورا مهـم دی. زمونـږ ادبـي او هنـري کارکوونکـي بایـد پـه دې برخه کې په ځانګـړې توګه ښـه کار وکـړي.

څکـه چـې زمونـږ د ادب او هنر اوریدونکي مـزدوران، بزګران، عسـکر او د هغوی کدرونه دي، نـو مونـږ بایـد هغـوی ښـه وپیژنو او پـه ژوره توګه پرې پوه شـو. د هغـوی د ژور درک او پیژندلـو لپـاره، پـه ګونـدي او دولتـي ادارو، کلیـو، فابریکـو او پـه اتمـه او څلورمـه نوې اردو کې د بېلابېلو اشـخاصو او پېښـو د ژور درک او پیژندلو لپاره ډېرې هڅې پکار دي. زمونـږ د لیکوالانـو او هنرمندانـو دنـده دا ده چې ادبي او هنري آثـار جوړ کړي، خو د دوی لومړۍ دنـده دا ده چې خلـک وپیژني او ژور یې وپیژنـي. اوس بـه وګـورو چـې زمونږ د لیکوالانـو او هنرمندانـو وضعیـت پـه دې ډګر کې تـر دې دمه څنګه دی؟ زه غـواړم ووایم چـې دوی پوهـه نـه درلـوده. دوی د هغو «اتلانو» په خیر وو «چاته چې د خپل هنر ښـودلو لپـاره هېـڅ ډګـر نـه و». دوی څـه نـه پیژني؟ دوی خلک ښـه نه پیژنـي. زمونږ لیکـوالان او

هنرمندان هغه خلک نه پېژني چې دوی يې تعريف کوي، او نه خپل اورېدونکي، ځينې وختونه دوی په بشپړه توګه له هغوي څخه پردي وي. دوی نه مزدوران، بزګران او عسکر ښه پېژني او نه کدرونه. دوی په څه نه پوهېږي؟ دوی د خلکو په ژبه نه پوهېږي، په دې مانا چې دوی د خلکو له بډايه او ژوندۍ ژبې سره ښه بلد نه دي. څرنګه چې ډېری ليکوالان او هنرمندان له ولس څخه بېل شوي او ژوند يې خالي شوی دی، نو طبعاً د خلکو له ژبې سره بلد نه دي. له همدې امله، دوی نه يوازې په داسې ژبه کې شيان ليکي چې نه رنګ لري او نه خوند، بلکې ډېری وختونه مصنوعي او عجيبه څرګندونې هم پکې شاملوي چې د خلکو له ژبې څخه خورا ډېر واټن لري. ډېری ملګري تل د «ولسي طريقې» خبرې کوي. مګر «دا ولسي طريقه» څه مانا لري؟ «ولسي طريقه» په دې مانا چې زمونږ د ليکوالانو او هنرمندانو فکرونه او احساسات بايد د پراخه ولسي کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو له افکارو او احساساتو سره يو شي. د دې يوځای کېدو لپاره، يو څوک بايد په ليوالتيا سره د خلکو ژبه زده کړي. که د اکثريت ولس ژبه درته د پوهېدو وړ نه وي، د ادبي او هنري تخليقاتو خبره څنګه کوې؟ کله چې زه «د هغو اتلانو په اړه خبرې کوم چې د خپل هنر ښودلو لپاره هېڅ ډګر نلري»، زما مطلب دا دی چې خلک ستاسو په زړه پورې ويناو ته ارزښت نه ورکوي. هرڅومره چې تاسو خپل ځان تجربه‌لرونکی ښکاره کړئ، هرڅومره چې تاسو د «اتل» څېره غوره کړئ او هرڅومره چې تاسو د خپلو محصولاتو پلورلو هڅه کوئ، نو خلک به په هماغه کچه د دوی له پيرودلو څخه کرکه وکړي. که تاسو غواړئ چې خلک تاسو درک کړي، که تاسو غواړئ چې د خلکو سره يوځای شئ، تاسو بايد هوډ ولرئ او د بيا زده کړې له اوږدې او آن دردناکې پروسې څخه تېر شئ. دلته زه غواړم تاسو سره خپله تجربه شريکه کړم چې زما احساسات څنګه بدل شوي. زه د يو زده‌کونکي په توګه ژوند ته داخل شوم او په ښوونځي کې مې د زده‌کونکي عادتونه او دودونه زده کړل. ما فکر کاوه چې که چېرې زه د نورو زده‌کونکو په مخ کې کوم کوچنی فزيکي کار وکړم چې

هغوي په ټول عمر کې هغه کار ته لاس نه دې وروړی، د بيلګې په توګه، د خپل سفر پيټی پخپله پورته کړم، نو زما شخصيت به له منځه ولاړ شي. په هغه وخت کې ما فکر کاوه چې په نړی کې يوازې روڼآندي سپېڅلي او پاک خلک دي او کارګران او بزګران د دوی په پرتله ډير يا لږ ناپاکه دي. ما د بل روڼآندي کالي اغوستل ځکه چې ما فکر کاوه پاک دي، مګر ما هېڅکله نه غوښتل چې د کارګر يا بزګر جامې واغوندم ځکه چې ما هغه ناپاکه ګڼلې. خو وروسته له دې چې زه انقلابي شوم او د انقلابي پوځ د کارګرانو، بزګرانو او عسکرو په منځ کې اووسېدم، ورو ورو مې وپېژندل او دوی هم ورو ورو پېژندلم. يوازې، او يوازې هماغه وخت و، چې زما د بورژوا او کوچنۍ بورژوا احساساتو کې يو بنسټيز بدلون راغی چې ما ته يې په بورژوازي ښوونځيو کې رازده کړي وو. ما وليدل هغه روڼآندي چې نوې روزنه يې نده ليدلې د کارګرانو او بزګرانو په پرتله پاک نه دي، او ما وليدل چې هماغه کارګران او بزګران تر ټولو پاک دي، که څه هم د دوی لاسونه خيرن او پښې يې ککړې دي، خو د ټولو بورژوا او کوچنۍ بورژوا له روڼآندو څخه پاک دي. دا په حقيقت کې هغه څه دي چې د احساساتو بدلون، له يوې طبقې څخه بلې ته د بدلون په وخت کې پرې پوهېږي. که زمونږ ليکوالان او هنرمندان، چې له روڼآندو حلقو څخه راغلي، غواړي چې د دوی آثار د ولس له خوا ومنل شي، نو بايد خپل فکر او احساسات بدل کړي او بيا وروزل شي. د دې بدلون پرته، د دې تعليم له نوي کولو پرته، دوی به په هېڅ شی کې بريالي نشي او د څلور کُنجه ميخ په څير به پاتې شي چې غواړي په ګردي سوري کې ننوځي.

وروستۍ مسله لوستل دي، چې زما مطلب د مارکسيزم ـ لينينيزم او ټولنې لوستنه ده. هغه کسان چې ځانونه مارکسيستي انقلابي ليکوالان ګڼي، او په ځانګړې توګه هغه ليکوالان چې د کمونست ګوند غړي دي، بايد مارکسيستي — لنينيستي معلومات ولري. په هرصورت، نن ورځ داسې ملګري شتون لري چې لا تر اوسه د مارکسيزم له بنسټيزو مفاهيمو سره بلد نه دي. د بېلګې په توګه يو له دغو مفاهيمو څخه دا دی چې

ټولنیز چاپریال ټولنیز شعور ټاکي او د طبقاتي مبارزې او ملي مبارزې عیني واقعیت زمونږ فکر او احساسات ټاکي. په هرصورت، زمونږ ځیني ملګري دا مسله په اپوټه بڼه راپورته کوي او ادعا کوي چې هرڅه باید د «مینې» پر بنسټ وي، په داسې حال کې چې په طبقاتي ټولنه کې مینه د طبقاتي مینې پرته بل څه نه وي. خو دا ملګري له طبقاتو څخه پورته د مینې په لټه کې دي، مجرده مینه او هم مجرده آزادي، مجرد حقیقت، مجرد انساني فطرت او نور. دا ښیي چې دوی د بورژوازۍ لخوا ډېر اغیزمن شوي. دا نفوذ باید په یو ځل لیرې شي او مارکسیزم ـ لنینیزم په ریښتیني بڼه مطالعه شي. ښکاره خبره ده چې د ادب او هنر کارکونکي باید ادبي او هنري تخلیقات مطالعه کړي، خو مارکسیزم ـ لنینیزم یو علم دی چې ټول انقلابیان یې باید مطالعه کړي، لیکوالان او هنرمندان ترې مستثنی نه دي. دوی باید ټولنه مطالعه کړي، یعنې د ټولنې بیلابیلې طبقې، د دوی متقابلې اړیکې او شرایط، د هغوی مخونه او روحونه مطالعه کړي. یوازې هغه وخت چې مونږ دا ټول مسایل روښانه کړو، زمونږ ادبیات او هنر به بډایه موضوع ومومي او سم لوري ته به روان شي.

نن به د بحث د پیل په توګه د دغو مسلو په یادولو ځان محدود کړم او هیله لرم چې تاسو ټول به د دې موضوع او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خپل نظر څرګند کړئ.

پایله

(د ۱۹۴۲ کال مې ۲۳مه)

ملګرو! په دې میاشت کې مونږ درې ځله سره ولیدل او د حقایقو په لټه کې مو په زړه پورې بحثونه وکړل چې په ترخ کې مو په لسګونو ګوندي او غیر ګوندي همکارانو خبرې وکړې، مسایل مو په ښکاره توګه مطرح کړل او هغوی ته مو ځانګړې بڼه

ورکړه. زه باور لرم چې زمونږ ادبي او هنري خوځښت به له دغو بحثونو څخه ډېره ګټه پورته کړي.

کله چې مونږ د یوې موضوع په اړه بحث کوو، مونږ باید له واقعیت څخه پیل کړو، نه له تعریفونو څخه. که مونږ په درسي کتابونو کې ادبي او هنري تعریفونه وګورو او بیا له هغو تعریفونو څخه د اوسني ادبي او هنري خوځښت د لارښود اصولو د ټاکلو او یا د ننني تیوریو او شخړو د قضاوت لپاره کار واخلو، ناسمه ده. مونږ مارکسیستان یو، او مارکسیزم مونږ ته دا درس راکوي چې د هرې ستونزې د څېړلو لپاره، مونږ باید د مجردو تعریفونو څخه پیل ونه کړو، بلکې د حقیقي واقعیت څخه پیل وکړو، او خپل لارښود اصول، پالیسۍ او طریقې وټاکو ترڅو د دې واقعیتونو تحلیل کې مرسته وکړي. مونږ باید د ادبي او هنري کارونو په اړه په خپل اوسني بحث کې هم همداسې وکړو.

هغه واقعیتونه چې نن زمونږ په مخ کې دي څه دي؟ دا واقعیتونه عبارت دي: د جاپان پر وړاندې د مقاومت جګړه چې چین له پنځو کلونو راهیسې په کې ښکیل دی. په ټوله نړۍ کې د فاشیزم ضد جګړه؛ د جاپان ضد مقاومت جګړه کې د لویو ځمکوالو او لوې بورژوازۍ غولیدل او د خلکو د ځپلو سیاست په لور ورتګ؛ د مۍ د څلورمې له غورځنګ وروسته په ادبیاتو او هنر کې انقلابي غورځنګ — په تیرو دیارلسو کلونو کې په انقلاب کې د دغه غورځنګ ستره ونډه او ګڼې نیمګړتیاوې؛ د جاپان ضد اتم پوځ او نوي څلورم پوځ ضد دیموکراتیکې اډې، له پورته یادو شویو دوو لښکرو او د کارګرانو او بزګرانو سره په دغو اډو کې د زیات شمیر لیکوالانو او هنرمندانو یوځای کول؛ د کاري چاپېریال او دندو په اړه د اډهایزو (پایګاهي) سیمو د لیکوالانو او هنرمندانو او د ګومینډان سیمو د لیکوالانو او هنرمندانو ترمنځ توپیر؛ په ینان او نورو جاپان ضد اډو کې د ادبي او هنري کارونو په اړه اختلافي مسلې. دا هغه شته او نه انکارکوونکي حقایق دي چې باید د هغو په رڼا کې خپل مسایل وڅېړو.

نـو د مسـلې غوټـه چيرتـه ده؟ زمـا پـه انـد، د مسـلې اصلي غوټـه خلکو ته د خدمت مسـله ده او څنګـه بايـد د خلکـو خدمـت وشـي، ده. تـر څـو چې دا دوه مسـلې حـل نه شـي او يا پـه سـمه توګـه حل نه شـي، زمونږ ليکـوالان او هنرمندان به د خپل چاپېريال او دندو سـره سـم نـه وي او هرومـرو بـه د يـو لـړ داخلـي او بهرنيو سـتونزو سـره مخ شـي. زه بـه په خپله پايلـه کې، پـه عمده توګه په دې دوو مسـلو تکيـه وکړم او په ورته وخت کې به هغو مسـلو تـه هم اشـاره وکـړم چې له دوی سـره تـړاو لري.

۱

لومړی مسله دا ده چې زمونږ ادب او هنر بايد چا ته خدمت وکړي؟

په حقيقت کې، دا ستونزه د مارکسيستانو او په ځانګړې توګه د لنين لخوا ډير پخوا حل شوې ده. لنين په ۱۹۰۵ کې ټينګار وکړ چې زمونږ هنر او ادب بايد «په ميليونونو ميليونونو خلکو ته خدمت وکړي»[۱]. ظاهراً د هغو ملګرو له نظره چې د ادب او هنر په ډګر کې د جاپان ضد اډو کې کار کوي، دا مسله ډېر پخوا حل شوې او د بيا را پورته کولو اړتيا يې نشته. خو په حقيقت کې داسې نه ده. ډيری ملګرو لاهم د دې ستونزې لپاره روښانه حل ندی موندلی. له همدې امله، د دوی احساسات او مينه، د دوی ليکنې، د دوی چلند او د ادب او هنر د لارښود اصولو په اړه د دوی نظرونه لږ تر لږه د ولس له اړتياو، د عملي مبارزې له اړتياو څخه جلا پاتې شوي دي. البته، د ډېرو روڼآندو، ليکوالانو، هنرمندانو او د ادب او هنر د نورو کارکونکو په منځ کې چې د کمونست ګوند، اتم پوځ او نوي څلورم پوځ په څنګ کې په ستره ژغورونکې مبارزه کې ګډون کوي، ځينې ممکن د موقعې په لټه کې وي او په موقت ډول له مونږ سره پاتې شي. خو اکثريت يې په پريکنده توګه د ګډ هدف په لاره کې خپل ټول قوت کارولی دی. د دوی د هڅو له امله د ادب، تياتر، موسيقۍ او ښکلو هنرونو په برخه کې ستر برياليتوبونه تر لاسه شوي دي. دغو ليکوالانو او هنرمندانو د مقاومت له جګړې وروسته په کار پيل وکړ. ډيريو يې ددې جګړې له پيل څخه ډېر مخکې د انقلاب په لاره کې ګام ايښی دی، په زرګونو کړاونه او دردونه يې زغملي او په خپلو کړنو او کارونو يې پراخ ولس اغېزمن کړی دی. نو ولې مونږ وايو چې د دې ملګرو په منځ کې هم ځينې لا تر اوسه په دې نه دي توانيدلي د دې پوښتنې لپاره روښانه او څرګنده حل پيدا کړي چې ادب او هنر بايد چا ته خدمت وکړي؟ آيا دا تصور کولای شو چې د دوی په منځ کې لا هم داسې کسان شته چې وايي انقلابي ادب او هنر بايد د پراخو خلکو په

خدمت کې نه وي بلکې د زبېښاکګرو او ظالمانو په چوپړ کې وي؟

البته دلته داسې ادب او هنر هم شته چې د زبېښاکګرو او ظالمانو خدمت کوي. د ځمکې د خاوندانو د طبقې لپاره جوړ شوی ادب او هنر فیوډالي ادب او هنر دی. د چین په فیوډالي دور کې د واکمنې طبقې ادب او هنر یو له هغو څخه و او دغه ډول ادب او هنر نن هم په چین کې ډېر اغېز لري. د بورژوازۍ لپاره جوړ شوی ادب او هنر بورژوا ادب او هنر دی. د لیان‌شي‌چیو[۲] په څېر خلک چې د لوسیون له خوا پرې کلکه نیوکه شوې، که څه هم دوی ادعا کوي چې ادب او هنر تر طبقو لوړ دی، خو په حقیقت کې د بورژوا ادب او هنر پر طرف او د پرولتاریایي ادب او هنر پر ضد ودرېږي. یو بل ادب او هنر هم شته چې د امپریالیستانو په چوپړ کې دی — د بېلګې په توګه د جوزوه‌ژن، جان‌زي‌پین[۳] او داسې نورو آثار — او مونږ ورته د هېواد د غدارانو ادب او هنر وایو. زمونږ په آند ادب او هنر د پورته ذکر شوو ډلو په خدمت کې نه، بلکې د ولس په خدمت کې دی. مونږ لا دمخه وویل چې په اوسني پړاو کې د چین نوی کلتور د پراخو خلکو او امپریالیستي او فیوډالي ضد کلتور دی چې د پرولتاریا له لوري رهبري کېږي. نن ورځ، هر څه چې په اصل کې ولسي وي، د پرولتاریا لخوا رهبري کېږي. هر هغه څه چې د بورژوازي تر مشرۍ لاندې وي هغه د خلکو سره تړاو نه لري. دا مطلب د نوی ادب او هنر په اړه هم سم دی، کوم چې د نوي کلتور عناصر دي. مونږ باید د ادبیاتو او هنرونو هغه بډایه میراثونه او غوره دودونه وساتو چې د چین او بهرنیو هېوادونو له لرغونو زمانو څخه مونږ ته رسېدلي دي، خو د خلکو د خدمت په موخه یې باید وساتو. مونږ په هېڅ صورت د تېرو ادبي او هنري بڼو د کارولو مخالف نه یو. مګر وروسته له دې چې زمونږ په لاسونو بیا جوړ شي او نوې مانا ومومي نو دا ډولونه به انقلابي شي او د خلکو په چوپړ کې به شي.

اوس راځئ وګورو چې د ولس خلک څوک دي؟ د خلکو لویه ډله، چې زمونږ د وګړو له ۹۰٪ څخه زیات جوړوي، کارګران، بزګران، عسکر او ښاري وړه بورژوازي

ده. لـه همـدې املـه، زمونـږ ادب او هنـر پـه لومـړی درجه کـې د کارګرانو لپـاره دی، يعنې د هغې طبقې لپاره چې انقلاب رهبري کـوي. دوهـم، د هغـو بزګرانـو لپـاره چې پـه انقلاب کې زمونږ خـورا زيات او کلک ملاتـړي دي. پـه دريمه درجـه کې، د وسـله‌والو کارګرانـو او بزګرانـو لپـاره، پـه بل عبـارت، د اتم پوځ او نوي څلورم پـوځ او د ولس نورو وسـله‌والو واحدونـو لپـاره چې د انقلابـي جګـړې اصلـي ځواکونـه جـوړوي. څلـورم، د ښـاري وړې‌بورژوازي او وړې‌بـورژوازي روڼ‌آندو د زيارکښـو خلکو لپـاره چې په انقلاب کې زمونـږ ملاتـړي دي او د اوږدې مـودې لپـاره زمونـږ سـره همـکاري کولـی شـي. دغـه څلـور ډلې د چيـن ولـس لـوی اکثريـت او د خلکـو تـر ټولـو لويه ډله جـوړوي. نـو زمونږ ادب او هنـر بايـد هغـو څلـورو ډلـو تـه خدمـت وکـړي چې مونـږ يې پورتـه يادونـه وکړه. د دوی د خدمـت کولـو لپـاره، مونـږ بايـد د پرولتاريـا دريـځ ونيسـو، نـه د وړې‌بـورژوازی دريـځ. نـن ورځ هغـه ليکـوالان چې پـه انفراديـت (انديويدواليسـتی) او وړې‌بـورژوازی دريـځ پـورې تړلـي دي، د کارګرانـو، بزګرانـو او پوځيانـو انقلابـي ولس ته پـه واقعي توګه خدمـت نـه شـي کولای، ځکه چې د دوی پام د وړې‌بـورژوازی په يو څو روڼ‌آندو متمرکز دی. همـدا پرېکنـده لامـل دی چې زمونـږ ځينـې ملګـري نشـي کـولای دا مسـله پـه سـمه توګـه حـل کـړي چې زمونـږ ادب او هنـر بايـد چـا تـه خدمـت وکـړي. زه د دې مسـلې د نظـري اړخ پـه اړه خبـرې نـه کـوم. زمونـږ پـه ليکـو کـې هېڅـوک پـه تيـوري يـا وينـا کـې دا نـه وايـي چې د کارګرانـو، بزګرانـو او سـرتېرو ډلـه د وړې‌بـورژوازی روڼ‌آنـدو څخـه لږ ارزښـت لـري. زه غـواړم دلتـه د هغـه څـه پـه اړه خبـرې وکـړم چې پـه عمـل او فعاليـت کـې پيښـيږي. آيـا ملګـري د مزدورانـو، کروندګـرو او عسـکرو پـه پرتله د وړې‌بـورژوازی روڼ‌آنـدو تـه ډيـر ارزښـت نـه ورکـوي؟ زه فکـر کـوم چې دوی ډير ارزښـت ورکـوي. ډېری ملګـري د دې پـر ځـای چـې دغـه روڼ‌آنـدي کارګرانـو، بزګرانـو او پوځيانـو تـه د ورنـږدې کولـو او د ولـس پـه عملـي مبـارزه کـې برخـه اخيسـتلو، د ولـس رنځونـو راښـکاره کولـو او هغـوی تـه تعليـم ورکولـو لپاره وهڅـوي ډېـری د وړې‌بـورژوازی روڼ‌آنـدو مطالعې او

د هغـوي روحـي شـننې تـه ارزښـت ورکـوي. او په ځانګـړې توګـه د دې روڼ‌آنـدو رنګولو کوښـښ کـوي، د دوی عیبونـه پټـوي او د بخښـنې غوښـتنه یې کوي. زمونـږ ډېر ملګري، چې لـه وړې‌بـورژوازۍ څخـه راغلي او پخپلـه روڼ‌آنـدي دي، یـوازې لـه روڼ‌آنـدو سـره دوسـتي کوي او ټول پام یې د هغوی په مطالعې او سـتاینې متمرکز دی. که دغو ملګرو د پرولتاریـا لـه دریـځ څخـه روڼ‌آندي مطالعـه او انځور کړي وای، په حقه به وو. مګر داسـې نـه ده، یـا لږترلـږه پـه بشـپړه توګـه ورتـه نـه ده. دوی د وړې‌بـورژوازۍ دریـځ غـوره کـوي او داسـې آثـار رامنځتـه کـوي چـې د وړې‌بـورژوازۍ د څرګندولـو یـوه بڼـه وي ــ د دوی ډیـری ادبـي او هنـري آثـار د دې ادعـا شـاهدي ورکـوي. په ډیـرو مواردو کـې، دا ملګري د وړې‌بورژوازۍ‌الاصـل روڼ‌آنـدو سـره تـر دې حـده ډیره علاقه لري چـې د هغوی د عیبونو پلـوي کـوي او یـا یې هم سـتاینه کـوي. له بلې خوا دا ملګري ډېر کم لـه مزدورانو، بزګرانو او عسـکرو سـره پـه اړیکـه کې وي، هغـوی نـه درک کـوي، نـه یې مطالعـه کوي، نـه یې په منـځ کـې نـږدې دوسـتان لـري او نه یـې د بیانولو تـوان لـري؛ کـه د دوی د انځورولو هڅه هـم وکـړي، نـو جامـې بـه د یـو زیارکـښ وي او څیـره بـه د وړې‌بـورژوازۍ د روڼ‌آنـدي وي. دا ملګـري پـه یـو ډول لـه هغـو مزدورانو، بزګرانو، سـرتیرو او کدرونو سـره مینه لري چـې ددوي لـه لیکـو راوتلـي دي، خـو کلـه کلـه پـه بـل ډول هغوي نـه خوښـوي، د هغوی احساسـات، د دوی حرکتونـه او همـدا راز د دوی ادبیـات او هنرونـه چـې لا تـر اوسـه پـه ماشـومتوب کـې دي (لکه دیوالـي ورځپاڼې، دیوالـې انځورګري، فولکلوریکې سـندرې او فولکلوریکې کیسـې او نور) دوی نه خوښـوي. البته، دوی کله ناکله له دې شـیانو سـره لیوالتیـا څرګنـدوي، مګـر دا یـوازې هغـه وخت چې دوی د نوي څه په لټه کې وي، یو څه چـې دوی کولـی شـي خپـل آثار د هغو په واسـطه سـینګار کړي، یـا حتـی دوی د دې د ادب او هنر ځینې شـاته‌پاتې اړخونو سـره مینه ښـکاره کوي. دا ملګري کله کله په ښـکاره دغو شـیانو تـه سـپکاوی کـوي او هغـه څـه ته مخه کـوي چـې د وړې‌بـورژوازۍ روڼ‌آنـدو او آن بـورژوازۍ پـورې اړه لـري. د دغو ملګرو پښـې اوس هـم د وړې‌بورژوازۍ روښـان‌فکرانو

په خاوره کې نښتي دي، او يا په ښکلې وینا سره د وړې‌بورژوازۍ روڼ‌آندو د امپراتوري ماهۍ لا هم د دوی د روح په ژورو کې ولاړه ده. له همدې امله، دا مسله چې ادب او هنر چاته خدمت کوي تر اوسه د دې ملګرو په سترګو کې حل یا په ښکاره ډول حل شوی نه ده. دا نه یوازې د هغو کسانو لپاره ده چې په دې وروستیو کې ینان ته راغلي دي؛ آن د هغو ملګرو په منځ کې چې په جبهو کې وو او له څو کلونو راهیسې زمونږ د قرارګاه په سیمو او په اتمه او څلورمه اردو کې کار کوي، ډېرې داسې کسان شته چې تر اوسه پورې دا مسله ورته په بشپړه توګه نه ده حل شوې. د دې مسلې په بشپړ ډول حل کول به وخت ونیسي ــ لږ ترلږه له اتو څخه تر لسو کلونو پورې. په هرصورت، که څه هم دا ډېر وخت نیسي، مونږ باید دا مسله حل کړو او په روښانه او کره ډول یې حل کړو. زمونږ ادبي او هنري کارکوونکي باید دا دنده پر غاړه واخلي او خپل دریځ بدل کړي. دوی باید په تدریج سره د کارګرانو، بزګرانو او پوځیانو په لور، د پرولتاریا په لورګام پورته کړي، د دوی منځ ته لاړ شي، د عملي مبارزې په زړه کې ځان ځای کړي او مارکسیزم او ټولنه مطالعه کړي. یوازې په دې توګه مونږ کولی شو داسې ادب او هنر رامنځته کړو چې واقعا د کارګرانو ، بزګرانو او سرتېرو خدمت وکړي ــ رېښتیني پرولتاریایي ادب او هنر.

دا چې ادب او هنر باید چا ته خدمت وکړي یوه بنسټیزه مسله ده. هغه استدلالونه او اختلافونه، مخالفتونه او نفاقونه چې په تېرو وختونو کې د ځینو ملګرو په منځ کې څرګند شوي، په دې بنسټیزې او اصولي مسلې پورې تړاو نه درلود، بلکې په ډېرو ثانوي مسلو پورې تړاو درلود او آن هغه مسلو پورې چې هېڅ اصولي اړخ یې نه درلود. خو د بحث لوریو د دې بنسټیزې مسلې په اړه هېڅ ډول اختلاف نه درلود، برعکس په دې مسله یې تقریباً بشپړ توافق درلود، یعنې په حقیقت کې دواړو خواوو تر یوې کچې غوښتل چې کارګران، کروندګر او پوځیان خوار وشمېرل شي او د خلکو څخه لرې پاتې شي. کله چې زه «تر یوې کچې» وایم نو علت یې دا دی چې په عمومي

توګه، که دا ملګري کارګران، بزګران او سرتېري کم ګڼي، او که دوی د خلکو څخه لیرې پاتې شي، دا هغه څه نه دي چې دګومیندان په لیکو کې لیدل کیږي. مګر په هر حالت کې، دا ډول تمایل شتون لري. تر څو چې دا بنسټیزه ستونزه حل نه شي، د ډېرو نورو ستونزو حل به ستونزمن وي. د مثال په توګه، په ادبي او هنري حلقو کې فرقه‌پالنې (سکتاریزم) ته پام وکړئ. دا هم یوه اصولي مسله ده، خو فرقه‌پالنه (سکتاریزم) یوازې د «کارګرانو او بزګرانو خدمت»، «د اتم پوځ او نوي څلورم پوځ خدمت»، او «ولس ته د تګ» په شعارونو له منځه وړل کیدی شي، که نه نو د فرقه‌پالنې ستونزه به هېڅکله حل نشي. لوسیون وویل: «د متحدې جبهې د شتون لپاره اړین شرط دګډ هدف درلودل دي ... زمونږ په جبهه کې د یووالي نشتوالی دا ښیي چې مونږ د خپل ځان لپاره ګډ هدف نه شو ټاکلی او بل دا چې ځینې خلک یا یوازې د کوچنیو ډلو لپاره یا په حقیقت کې یوازې د ځان لپاره کار کوي. که زمونږ ټولو موخه کارګرانو او بزګرانو ته خدمت کول وي، بې له شکه، زمونږ جبهه به متحده وي.»[۴] دغه مسله چې په هغه وخت کې په شانګهای کې مطرح کېده، اوس په چونچینګ کې هم مطرح کیږي. په داسې ځایونو کې د دې ستونزې په بشپړه توګه حل کول خورا ستونزمن کار دی ځکه چې واکمنان انقلابي لیکوالان او هنرمندان تر فشار لاندې راولي او د کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو منځ ته د تګ آزادي ترینه اخیستل شوی ده.

دلته زمونږ وضعیت په بشپړ ډول توپیر لري. مونږ انقلابي لیکوالان او هنرمندانو هڅو چې له کارګرانو، بزګرانو او پوځیانو سره نږدې اړیکې ټینګې کړي، مونږ هغوی ته پوره آزادي ورکوو چې د ولس منځ ته ولاړ شي او اصلي انقلابي ادب او هنر رامنځته کړي. له همدې امله، دا مسله حل ته نږدې ده. خو حقیقت دا دی چې د ستونزې حل ته نږدې کیدل په دې مانا نده چې د ستونزې بشپړ او حتمي حل ترلاسه شوی دی. که مونږ د مارکسیزم او ټولنې د مطالعې د اړتیا په اړه خبرې وکړو، دا په سمه توګه د دې ستونزې د بشپړ او حتمي حل د ترلاسه کولو لپاره ده. هغه څه چې مونږ بې مارکسیزم

بولـو یـو ژونـدی مارکسـیزم دی چې د خلکو پـه ژوند او مبـارزه کې اغیزمـن رول لوبوي، نـه یـوازې ژبني مارکسـیزم. کـه همدا ژبنی مارکسـیزم په ریښـتیني ژوند کې په مارکسـیزم بـدل شـي، نـو بیـا بـه فرقه‌پالنې ته هېڅ ځای پاتې نه وي او نـه یوازې د فرقه‌پالنې سـتونزه بلکې نـورې ډېرې سـتونزې هم حل کیدای شـي.

۲

د «چاتـه بایـد خدمـت وشـي» د سـتونزې لـه حـل وروسـته د «څنګـه باید خدمت وشـي» پوښـتنه راپورتـه کیـږي، یا لکه څنګه چې ځینې ملګري وایي: آیـا مونږ باید خپلې هڅې د ادب او هنـر د کچې د لوړولـو پـه لاره کې وکاروو او یا د هنر د ولسـي کولو په لاره کې؟

پـه تیـرو وختونـو کې ځینـو ملګـرو تر یـوې اندازې پـورې او ځینـې وختونه حتی تـر ډېره حـده د ادب او هنـر ولسـي کولو (تـوده‌ای کـردن) تـه کـم ارزښـت ورکاوه یـا یې لـه پامـه غورځـوه. دوی د ادب او هنـر د کچې لوړولـو تـه ډېـر ارزښـت ورکاوه. ښـکاره خبـره ده چې د ادب او هنـر د کچې پـر ښـه‌والي بایـد ټینـګار وشـي، خـو کـه داکار پـه یـو اړخیـزه توګـه وشـي او مبالغـه شـي، نـو تېروتنـه ده. د «چـا لپـاره» مسـلې تـه د کـره او روښـانه حل نشـتوالی چې مـا یې پورتـه یادونه وکـړه پـه دې برخه کې هـم څرګندیـږي. د دې حقیقت لـه املـه چې دوی د «چـا لپـاره» مسـله نه ده روښـانه کـړې، دا ملګـري د «ولسـي کولو» او «د کچې لوړولـو» ترمنـځ د توپیـر لپـاره سـم معیـار نـه لـري، او دوی نشـي کولـی د دوی ترمنـځ سـمه اړیکـه ومومـي. څرنګـه چې زمونـږ ادب او هنـر اساسـا د کارګرانـو، بزګرانو او عسـکرو پـه خدمـت کې دی، نـو د ولسـي کولو مانـا د کارګرانـو، بزګرانـو او سـرتېرو په منځ کې ولسـي کول دي او د کچې لوړول د کارګرانو، بزګرانو او سـرتېرو اوسـنۍ کچه په پـام کې نیـول او د هغې لـوړول دي. مونـږ باید د کارګرانـو، بزګرانو او سـرتېرو ترمنځ څه شـی ولسـي کـړو؟ آیـا دا هغه څـه دي چې د ځمکې د مالکینـو او فیوډالي طبقې د اړتیاوو

سره سم او د هغوي د منلو وړ دي؟ یا هغه څه چې د بورژوازۍ د اړتیاوو سره سم او د هغوي لخوا منل شوي؟ یا هغه څه چې د وړې‌بورژوازۍ د روڼ‌آندو د اړتیاوو سره سم دي او د هغوي لخوا منل شوي؟ نه، له دې څخه هېڅ یو. مونږ باید یوازې هغه څه ولسي کړو چې کارګران، بزګران او سرتیري ورته اړتیا لري او په آسانۍ سره یې د منلو وړ وي. نو، مخکې له دې چې مونږ د کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو روزنه پیل کړو، مونږ یې باید له دوی څخه زده کړو. دا په ځانګړې توګه د سطحې لوړولو په اړه صدق کوي. د یو څه شي د پورته کولو لپاره، مونږ باید له هغه ځای څخه حرکت وکړو چې هغه شی هلته دی. د مثال په توګه، د یو سطل اوبو د پورته کولو لپاره، آیا له دې پرته بله لاره شته چې مونږ هغه له ځمکې څخه راپورته کړو؟ آیا دا ممکنه ده چې سطل له هوا څخه پورته کړئ؟ نو د ادب او هنر د کچې د لوړولو لپاره باید له کوم ځای څخه پیل وکړو؟ د فیوډالي طبقې له کچې څخه؟ یا د بورژوازۍ له کچې څخه؟ یا د وړې‌بورژوازۍ روڼ‌آندو له کچې؟ نه، له دې سطحو څخه هېڅ یو نه، مونږ باید یوازې د کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو د ولسي کچې څخه پیل کړو. دا په دې معنا نه ده چې د کارګرانو، بزګرانو او پوځیانو کچه باید د فیوډالي طبقې، بورژوازي یا وړې‌بورژوازۍ روڼ‌آندو تر «کچې» پورته کړو، بلکې دا په دې مانا ده چې باید د ادب او هنر کچه هغه لوري ته چې کارګران، بزګران او عسکر پرې مخ په وړاندې ځي، یا پرولتاریا په هغه لوري روان ده، لوړه کړو. دلته بیا د کارګرانو، بزګرانو او پوځیانو په ښوونځي کې د زده کړې دنده رامنځته کیږي. دا یوازې د کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو له کچې څخه په حرکت کې ده چې مونږ کولی شو د ادب او هنر د ولسي کولو او د کچې لوړولو په اړه سم پوهاوی ترلاسه کړو او د دواړو ترمنځ سمه اړیکه پیدا کړو.

په پایله کې د ادب او هنر د ټولو برخو سرچینه څه ده؟ ادبي او هنري کارونه، د ایډیالوژیکي بڼو په توګه، د انسان په دماغو کې د یو ځانګړي ټولنیز ژوند انعکاس محصول دی. انقلابي ادب او هنر د انقلابي لیکوال یا هنرمند په ذهن کې د خلکو د

ژوند د انعکاس محصول دی. د خلکو ژوند تل د ادب او هنر د لومړنیو توکو د کان په څیر دی–په خپل طبیعی حالت کې توکي، غیر کارول شوی مواد، مګر دا خورا ژوندي، بډایه او خورا بنسټیز شیان دی چې موندل کیدی شي؛ او په دې لحاظ هر ډول ادب او هنر د دغو توکو په وړاندې بې خونده دی؛ دا مواد د هر ادب او هنر یوازینی او نه ختمېدونکې سرچینه ده ــ یوازینۍ سرچینه ځکه چې دا یوازینۍ ممکنه سرچینه ده او پرته له دې بله سرچینه نشته. ځینې خلک به ووایي: آیا ادب او هنر په کتابونو او پخوانیو آثارو او په بهرنیو هیوادونو کې سرچینه نه لري؟ حقیقت دا دی چې تیرو ادبي او هنري آثار سرچینه نه، بلکې ویالې دي. دا آثار د هغه موادو څخه جوړ شوي چې پخوانیو یا بهرنیو لیکوالانو د خپل وخت او ځای د خلکو له ژوند څخه ترلاسه کړي. مونږ باید هر هغه څه چې د پخواني ادب او هنر له میراث څخه راپاتې دي، هر هغه څه چې ښه دي، واخلو او هغه څه چې ګټور وي په انتقادي توګه ترې زده کړو او کله چې د خپل وخت او ځای د خلکو د ګټو سره سم د ادبي او هنري آثارو په جوړولو لاس پورې کوو، ترینه ګټه واخلو. د داسې بېلګې په درلودلو او نه درلودلو کې یو توپیر شته او هغه دا چې د لیکوال او هنرمند کار ښایسته دی او که بې‌رنګه، نازکه دی یا بدشکله، لوړه کچه لري یا ټیټه کچه، ګړندی دی یا ورو پای ته رسیږي. د همدې لپاره باید د پخوانیو او بهرنیانو میراث، که څه هم هغه فیوډالي او بورژوازي کارونه وي، له پامه ونه غورځوو او له زده کړې بې ډډه ونه کړو. خو د دې میراث منل او له هغې څخه د بېلګې اخیستل باید هېڅکله زمونږ د ادبي او هنري پنځونو ځای ونیسي. هېڅ شی د هغې ځای‌ناستی نشي کیدای. د پخوانیو او بهرنیانو د آثارو نقل کول او پرته له کوم انتقاد څخه د هغوی تقلید کول د ادب او هنر په ډګر کې په خورا بې‌ګټې او زیان‌رسونکي دګماتیزم کې راګیر کیدل دي. د چین انقلابي لیکوالان او هنرمندان، ژمن لیکوالان او هنرمندان باید د خلکو منځ ته ورشي؛ د اوږدې مودې لپاره، دوی باید د کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو په منځ کې د خپلو زړونو او روحونو سره لاړ شي،

د مبارزې لـه اور څخـه تیـر شـي، د پنځونې هغې بې‌سـارې سـرچینې ته، هغې سـرچینې تـه چې خـورا بډایـه او زرغونـه ده، مخـه کـړي. تـر هغې چې د خلکو ټـول ډولونـه، ټولې طبقې، ټـول ولـس، د ژونـد او مبـارزې ټـول هڅوونکـي ډولونـه، د ادب او هنر ټـول خام مـواد لـه پامـه تیـر کـړي، پرې پوه شـي، مطالعه او تحلیل یـې کـړي. یوازې له دې وروسـته دوی کولی شـي ادبي او هنري کار پیل کړي. که نه نو، ستاسـو کار به بې‌مانا وي او تاسـو بـه د هغـو کسـانو پـه شـمیر کې یاسـت چې یـوازې د لیکـوال او هنرمند نوم لـري ــ هغه ډول چې لوسـیون پـه خپـل وصیـت کې خپـل زوی تـه پـه کلکـه لارښـوونه کـړې وه چې هېڅکلـه د دوی څخه بیلګـه وانخلي.(۵)

کـه څـه هـم د انسـانانو ټولنیز ژونـد د ادب او هنـر یوازینۍ سـرچینه ده او د محتوا له پلوه د ادب او هنـر پـه پرتلـه خـورا ژونـدۍ او بډایـه ده، خـو بیا هم خلک یوازې لـه ژوند څخه راضـي نـه دي او غـواړي چې ادب او هنـر هـم ولـري. ولـې؟ ځکـه چې که څه هـم ژوند، ادب او هنـر دواړه ښـکلي دي، هغـه ژونـد چې پـه ادبـي او هنـري کارونـو کـې منعکس شـوی وي، د واقعـي ورځنـي ژونـد پـه پرتلـه ډېـر باعزتـه، ډېـر ځواکمـن، ډېـر ثابـت، ډېـر عـادي، ایډیـال تـه ډېـر نـږدې او له همدې امله کېدای شـي ډېر عمومـي وي. انقلابي ادب او هنـر بایـد لـه حقیقي ژونـد څخـه بیلابیلـې خېرې جـوړې کړي او له ولس سـره مرسـته وکـړي چې تاریـخ مـخ پـه وړانـدې بوځـي. د بېلګې پـه توګـه ځینـې خلـک لـه لـوږې او یخنـۍ څخـه رنـځ وړي او د ظلمونـو قربانـي کېـږي، خـو ځینـې نـور لـه خلکو نـاوړه ګټه پورتـه کـوي او ظلـم کـوي. دا حقیقـت هرچیـرې لیـدل کیـږي او خلـک یـې بې‌ارزښـته او سـپک ګڼـي. خـو لیکـوالان او هنرمنـدان د دې وړتیـا لري چې دا ورځنۍ پیښـې همغږې کـړي، د دوی داخلي شـخړې او مبارزې په عادي بڼه بیان کړي، او په دې توګه داسـې آثار رامنځتـه کـړي چې د خلکو ذهنونه راویښ کړي، دوی ته شـور او ولوله ورکړي، هغوی د خپـل چاپېریـال د بدلـون لپاره مبارزې او یووالي ته راوبلي. دا کارونه د داسـې ادب او هنر پرته نه شـي ترسـره کیدای. یا دا چې دا له اړین اغیز او سـرعت سره نشـي ترسـره کیدی.

د ادب او هنـر د کچې لوړېدل او ولسي کـول څـه ته وايـي؟ د دې دوو دنـدو ترمنځ اړيکه څه ده؟ هغه آثـار چې د عامـو خلکـو په کچه دي، په آسـانۍ سـره زده کېږي او له همدې امله پـه بيـړه زمونـږ د وخـت د خلکـو لخـوا منـل شـوي. هغه آثـاره چې کچه يې لـوړه ده نازک‌خيالي لـري، رامنځتـه‌ کـول يې هم نسبتا سـتونزمن دي، او په اوسـني وخت کې د خلکـو پـه منـځ کې د دوی ويـش معمـولا دومره آسـانه او چټک نـه وي. هغه سـتونزه چې کارګـران، بزګـران او عسـکر اوس ورسـره مـخ دي په لانـدې ډول ده: دوی اوس له دښـمن سـره پـه سـخته او خونـړۍ جګـړه کې ښـکيل دي، او دا چې دوی د فيوډالي او بـورژوازي طبقـو د واک لـه املـه نالوسـتي او بې تعليمه دي، نو پـه بېړنۍ توګه دې تـه اړتيا لري چې لـه کلتـور سـره د بلدتيا لپـاره يو پراخـه غورځنګ رامنځته شـي. دوی په دوامـداره توګه د کلتـور، زده‌کـړې او همدارنګـه د ادبـي او هنري کارونو غوښـتنه کوي، چې د دوی بېړنۍ اړتيـاوې پـوره کـړي او پـه اسـانۍ سـره د هضم وړ وي، ترڅـو په مبارزه کې د دوی شـور او ولولـې راوپـاروي، پـه بريـا ددوي بـاور زيات کـړي، يووالي او پيوسـتون يې پيـاوړی کړي ترڅـو د دښـمن پـر وړانـدې پـه يـو زړه او يو روح سـره وجنګيږئ. هغه څه چې دوی ورته اړتيـا لـري «پـه زربـاف ټوکـر کـې د ګلونـو کـرل» نـدي، بلکـه «د واورې پـه ورځ د سـکرو ډالـۍ» ده. پـه همـدې خاطـر پـه اوسـنيو حالاتـو کـې د ادب او هنـر ولسـي کول تـر ټولـو عاجـل کار دی. لـه پامـه غورځـول او کمول يې تېروتنه ده.

پـه هرصـورت، ولسـي کول او کچـه لـوړول پـه بشـپړه توګـه نـه شـي جـلا کيـدی. اوس دا شـونې ده چې يـو څـه لـوړ کيفيـت لرونکي آثـار خلکـو تـه ورسـول شـي، لـه بلې خوا د خلکـو کلتـوري کچـه پـه دوامـداره توګـه لوړيـږي. کـه زمونـږ د ولسـي کولو کار تـل پـه همـدې کچـه پاتې وي، کـه يـوازې يـو محصول په مياشـتو او کلونـو توليد شـي، که هغه تل هماغه «کوچنی شـپون»[۶] او ورته کلمې: «سـړی، لاس، خوله، چاقو، غوا، پسـه»[۷] عرضـه شـي، نـو د ښـوونکي او زده‌کوونکي تر منـځ څه توپير دی؟ دا ولسـي کول څه مانا لـري؟ خلک غـواړي چې ادبـي او هنري آثار ولسـي شـي او بيا يې کچه لوړه شـي؛ دوی

غـواړي چې کچه مياشـت پـه مياشـت او کال پـه کال وده ورکړي. دلته، ولسـي کول پدې مانـا دي چې دا د خلکـو لپاره د پوهيـدو وړ دي، او د کچې لوړول د خلکو لپاره د لوړولو مانـا لـري. دا ډول د کچې لـوړول لـه خلا څخـه نه پيل کيږي او په څلـورو ديوالونو کې نه محدوديـږي، بلکـه د ولسـي کولو پـر بنسـټ دي. دا پورته کـول د ولسـي کولو لخوا ټاکل کيـږي او پـه ورتـه وخـت کې لارښـوونه کـوي. پـه چيـن کې د انقـلاب او انقلابـي کلتور تکامـل ناانـډول دی او پـه تدريجـي ډول پراخيـږي. په داسـې حال کې چې پـه يو ځای کې ادب او هنـر ولسـي شـوی او پـه همـدې اسـاس يې کچـه لـوړه شـوې ده، پـه بل ځـای کې بيـا ولسـي کول پيـل شـوي نـدي. نو هغـه مثبتې تجربې چې مونږ په يـو ځای کې د ادب او هنـر د ولسـي کولو او د ادب او هنـر د کچې د لوړولـو پـه برخـه کې تر لاسـه کـړي دي، پـه نـورو ځايونـو کې تـرې ګټه اخيسـتلای شـو او په هغـو ځايونو کې د ولسـي کولو او د کچې لوړولـو تـه لار هـواروي او له تيروتنو يې سـاتي. په نړيواله کچـه د بهرنيو هېوادونو پـه تېره بيـا د شـوروي اتحـاد مثبتـې تجربې زمونـږ لارښـود کېدای شـي. له همـدې امله زمونـږ پـه آنـد د ادب او هنـر د کچې لوړول د ولسـي کولو پر بنسـټ پر مـخ وړل کيږي او پـه ورتـه وخـت کې ولسـي کول د کچې لوړولـو له لوري راهنمايی کېږي. همدا علت دی چې د ولسـي کولو کار، پـه دې مانـا چې مونږ پوهيږو، نه يوازې د کچې د لوړولو پـه لاره کې يـو خنډ دی، بلکـه دا پـه اوسـنۍ محـدود پيمانه کې د کچې لوړولو لپاره يو بنسـټ دی او پـه پراخـه پيمانـه د کچې لوړولـو کار تـه دوام ورکولـو لپـاره پـه راتلونکـي کې اړين شـرايط هم چمتـو کوي.

د هغـو آثـارو د کچې لوړولـو سـربيره چې په مسـتقيم ډول د خلکو اړتياوې پـوره کوي، د کچې لوړولـو يـو بل ډول هم شـته چې په غير مسـتقيم ډول د دوی اړتيـاوې پوره کوي ــ د کچې لوړولـو هغـه ډول چې کدرونـه ورته اړتيا لـري. کدرونـه د خلکو مخکښ عناصر دي او پـه عمومـي توګـه دوی د خلکـو پـه پرتلـه ډير تعليم ترلاسـه کـړی دی. پـه لوړه کچه ادب او هنـر د دوی لپـاره خـورا اړيـن دی. د دې اړتيـا لـه پامـه غورځـول يـوه تېروتنـه ده.

هغه څه چې تاسو د کدرونو لپاره کوئ ټول د ولسي خلکو لپاره دي، ځکه چې ولسي خلک یوازې د کدرونو لخوا تعلیم او لارښوونه ویني. که مونږ له دې هدف څخه مخ واړوو، که هغه څه چې مونږ کدرونو ته ورکوو، د خلکو په ښوونه او لارښونه کې مرسته ونکړي، د ادب او هنر د کچې په لوړولو کې زمونږ هڅې به له نښې پرته د ډزو په څیر وي او ولس ته د خدمت لپاره له اساسي اصولو څخه به جلا وي.

په لنډه توګه، د ادب او هنر خام مواد چې د خلکو له ژوند څخه اخیستل کیږي، د انقلابي لیکوالانو او هنرمندانو د تخلیقي کار په پایله کې ادب او هنر کیږي، چې د ایډیالوژیکي بڼو په توګه د خلکو خدمت کوي. له یوې خوا، په دې کې خورا پرمختللی ادب او هنر شامل دی چې د ابتدایي ادب او هنر پر بنسټ بې وده کړې او د خلکو د یوې برخې لپاره چې کچه یې لوړه ده، یا په ځانګړې توګه د هغو کدرونو لپاره چې د خلکو په منځ کې کار کوي، اړین دي. له بلې خوا په دې کې ابتدایي ادب او هنر شامل دی، چې د پرمختللو ادبیاتو او هنرونو لخوا رهبري کیږي، او په ټولیزه توګه، دا اوس د لوی اکثریت خلکو بیړنی اړتیا ده. زمونږ ادبیات او هنر که په لوړه کچه وي او که په ابتدایي کچه، په مساوي ډول د عامو خلکو په چوپړ کې او په لومړي سر کې د کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو په خدمت کې دي. زمونږ ادب او هنر د دوی لپاره جوړ شوی او د دوی لخوا کارول کیږي.

اوس چې مونږ د ادب او هنر د ولسي کولو او د دوی د کچې د لوړولو تر منځ د اړیکو ستونزه حل کړې، مونږ کولی شو د ادب او هنر د متخصصینو او ولسي کوونکو کسانو ترمنځ د اړیکو ستونزه هم حل کړو. زمونږ متخصصین نه یوازې د کدرونو لپاره بلکې په ځانګړې توګه د خلکو لپاره کار کوي. زمونږ د ادبیاتو متخصصین باید د ولس دیوالي ورځپاڼو او د اردو او د کلیو څخه راتلونکو راپورونو ته ډیره پاملرنه وکړي. د تیاتر په برخه کې زمونږ متخصصین باید په اردو او لیرې پرتو کلیو کې کوچنیو مسلکي ډلو ته پاملرنه وکړي. د موسیقۍ په برخه کې زمونږ متخصصین باید د ولس

کمپوزونو ته ډېره پاملرنه وکړي. د ښکلو هنرونو په برخه کې زمونږ متخصصين بايد د ولس ښکلو هنرونو ته پاملرنه وکړي. دا ټول ملګري بايد له هغو ملګرو سره نژدې اړيکي ولري چې ادب او هنر د خلکو په منځ کې ولسي کوي. له يوې خوا دوي بايد د ولسي کوونکو سره مرسته او لارښوونه وکړي او له بلې خوا دوي بايد له همدغو ملګرو څخه زده کړه وکړي او د دوی له لارې د ولس د ژوند له سپېڅلې خزانې څخه د خپل هنر د ژوندي کولو او بډايه کولو لپاره کار واخلي، تر څو د دوی تخصص «په وريځو کې ماڼۍ» له ولس او واقعيت څخه لرې، له محتوياتو او ژوند څخه خالي نه وي. مونږ بايد خپلو متخصصينو ته درناوی وکړو ځکه چې دوی زمونږ لپاره خورا ارزښتناکه دي. په هرصورت، مونږ بايد دوی ته ووايو چې هېڅ انقلابي ليکوال او هنرمند نشي کولی خپل کار ته مانا ورکړي تر هغې چې له خلکو سره نږدې اړيکه ومومي، د دوی فکرونه او احساسات څرګند کړي او د وفادار وياند په توګه هغوي ته خدمت وکړي. هغه کولی شي دوی ته يوازې هغه وخت درس ورکړي چې هغه د خلکو استازی وي، او يوازې هغه وخت چې هغه د خلکو شاګرد شي، کولی شي د دوی ښوونکی شي. که هغه ځان د ولس بادار ګڼي، که د يوه اشراف په څېر چلند وکړي، د خلکو په منځ کې ځان‌ښودنه کوي، که څه هم د ده کار څومره لوی وي، د ولسي کار په درد نه خوري او کار به يې راتلونکی ونه لري.

آيا زمونږ دا چلند يو ګټه‌غوښتونکی چلند نه دی؟ ماترياليستان په عمومي ډول د ګټې‌غوښتنې پر ضد نه دي، بلکې د فيوډالي، بورژوازي او وړې‌بورژوازي د ګټې‌غوښتنې پر ضد دي. دوی د هغو رياکارانو پر ضد دي چې په خوله د ګټې‌غوښتنې پر ضد بريد کوي، خو په عمل کې تر ټولو خود غرضه او لنډنظره ګټه‌غوښتونکي دي. په نړۍ کې هېڅ «ايزم» نشته چې د ګټه‌غوښتنې څخه غوره وي؛ په يوه طبقاتي ټولنه کې، يوازې د دې يا هغې طبقې ګټې شتون لري. مونږ پرولتاريايی انقلابي ګټې‌غوښتونکي يو. زمونږ د خوځښت اصل د نن او سبا د پراخو خلکو د ګټو يووالی دی چې د ټولنې نوي

سلنه څخه زیات وګړي جوړوي. له همدې امله مونږ انقلابي ګټه‌غوښتونکي یو چې زمونږ پر وړاندې خورا پراخه او لرې اهداف ټاکل شوي دي. مونږ له هغو لنډ نظره ګټه‌غوښتونکو څخه نه یو چې له جزوي او فوري ګټو پرته بل څه نه ویني. د بېلګې په توګه که یوه لیکنه یوازې د څو کسانو په خوښه وي خو د اکثرو خلکو لپاره ګټوره نه وي او ضرر هم ولري، که څوک دا لیکنه د خپلې ګټې یا د یوې وړې ډلې د ګټې لپاره بازار ته وړاندې کړي او د خلکو په منځ کې تبلیغ کړي په پای کې که هغه پر ولس د خود غرضۍ تور ولګوي، نو په دې کار سره بې نه یوازې د خلکو سپکاوی کړی دی، بلکې دا بې هم ښودلې چې د خپل ځان په اړه هم نه پوهېږي. یوازې هغه څه چې واقعیا د خلکو لپاره ګټور وي ښه دي. که ستاسو لیکنه د «پسرلي د واورې» په څېر ښکلې وي، مګر یوازې یو څو کسه به ترینه خوند واخلي، او که چیرې ولس بیا هم د «بدرنګو آواز»[۸] په ویلو خوشحاله وي، او که تاسو د هغوي د کچې لوړولو هڅه نه کوئ او ولس غندئ، ستاسو ټولې غندنې به بې ځایه وي. هغه مسله چې اوس راپورته کیږي دا ده چې د «پسرلي واوره» د «بدرنګو آواز» سره او ولسي کول له ادب او هنر کچې لوړولو سره یو کړو. له داسې یووالي پرته، لوړ هنر، که د هر ډول متخصص وي، پرته له خورا تنګ‌نظرۍ ګټې اخیستنې پرته به بل څه نه وي. تاسو ښایي دا هنر «پاک او عالي» وګڼئ، مګر دا یوازې تاسو یاست چې دا ووایئ، ولس تاسو نه مني.

همدا چې مونږ د سیاست بنسټیزه مسله حل کړه ، یعنی مونږ وپوهېدو چې د کارګرانو، بزګرانو او سرتېرو ته باید خدمت وشي او څنګه باید خدمت وشي، نورې مسلې لکه د ژوند د تیارو او روښانه اړخونو روښانه کول او د یووالي مسله به هم حل شي. که مونږ ټول له دې بنسټیزې تګلارې سره همغږي یو، نو زمونږ لیکوالان او هنرمندان، زمونږ ښوونځي او رسنۍ او زمونږ سازمانونه د ادب او هنر په ډګر کې او زمونږ په ټولو ادبي او هنري فعالیتونو کې هم باید دا تګلاره تعقیب کړي. له دې تګلارې څخه وتل یوه تېروتنه ده. او هغه څه چې له هغې سره سمون نه خوري، باید په سمه توګه اصلاح شي.

۳

اوس چې دا څرګنده شوه چې زمونږ ادب او هنر باید د ولس په چوپړ کې وي، مونږ کولی شو په‌ګوند کې دننه د اړیکو په اړه وغږېږو، د بیلګې په توګه د ادب او هنر په ډګر کې د ګوند د کار او په ټوله کې دګوند د کار ترمنځ اړیکه، همدارنګه دګوند د بهرنیو اړیکو مسله، یعنې د ادب او هنر په ډګر کې دګوند کار او په دې برخه کې د غیر کمونستانو د کار تر منځ اړیکه، په بل عبارت په ادبي او هنري حلقو کې د متحدې جبهې مسله.

راځئ چې له لومړۍ مسئلې پېل کړو. په نننۍ نړۍ کې هر کلتور، هر ادب او هنر په یوې ځانګړې طبقې پورې اړه لري او د یوې ټاکلې سیاسي تګلارې څخه منځ ته راځي. په حقیقت کې، د هنر لپاره هنر، له طبقو څخه پورته هنر او هنر چې له سیاست څخه جلا یا خپلواک وي، شتون نه لري. پرولتاریایي ادب او هنر د پرولتاریایي انقلابی امر یوه برخه ده او لکه څنګه چې لنین وویل: په ټوله کې د انقلاب د مکانیزم «څرخ او پیچ»[۹] دی. له همدې امله دګوند ادبي او هنري کار د ګوند په انقلابي کارونو کې یو ثابت او ځانګړی ځای لري او دا هغه انقلابي دنده ده چې ګوند د انقلاب د یوې ټاکلې مودې لپاره ټاکلې وي. د دې مطلب انکار به خامخا د دوه اړخیزې (دوآلیزم) یا کثرتیت (پلورالیزم) لامل شي او په اصل کې به هغه څه رامنځته کړي چې ټراټسکي غوښتل: «مارکسیستي سیاست؛ بورژوای هنر.» مونږ د ادب او هنر په ارزښت باندې له مبالغه کولو سره موافق نه یو چې د تیروتنې تر حده رسیږي، خو د هغې د ارزښت له کمولو سره هم موافق نه یو. ادب او هنر د سیاست تابع دي، خو په ورته وخت کې پر سیاست هم ډېر اغېز لري. انقلابي ادبیات او هنر په ټوله کې د انقلابي امر یوه برخه ده، د هغې څرخ او پیچ دي او که څه هم د ځینو نورو مهمو برخو په پرتله ښایي کم ارزښته او په دویم مقام کې ځای ولري؛ خو له عمومي میکانیزم څخه نه جلا کیدونکي څرخ او پیچ دي، او په ټوله کې د انقلابي امر یوه اړینه برخه جوړوي. که

مونږ ادبیات او هنر ونلرو ــ حتی په پراخه او خورا لومړني مفهوم کې ــ زمونږ انقلابي غورځنګ به پرمختګ ونه کړي او بریالی به نشي. ددې ټکي نه لیدل ناسمه ده. سربیره پردې، کله چې مونږ سیاست ته د ادب او هنر د تابع کولو په اړه خبرې کوو، زمونږ موخه طبقاتي سیاست دی، د ولس سیاست، نه د څو سیاستوالو سیاست. سیاست که انقلابي وي او که ضد انقلابي، تل د یوې طبقې پر وړاندې د بلې طبقې مبارزه وي، نه د څو اشخاصو کړنې. په ایډیالوژیکي او هنري جبهه کې انقلابي مبارزه باید د سیاسي مبارزې تابع وي ځکه چې د طبقو او ولس د اړتیاوو همغږي اظهار یوازې د سیاست له لارې شوني ده. انقلابي سیاستوال، د سیاسي چارو متخصصین چې د انقلابي سیاست په علم او هنر پوهیږي، په حقیقت کې د میلیونونو نورو سیاستوالو مشران دي چې هغوي له ولس پرته بل څوک ندي. د دوی دنده دا ده چې د دې میلیونونو ولسي سیاستوالو نظرونه راټول کړي، یوځای یې کړي او نچوړ یې بیا ولس ته وسپاري، تر څو ولس یې دغه نظر واخلي او عملي یې کړي. له همدې امله، دوی د اشرافي ډوله «سیاستوالانو» څخه ندي چې ځانونه یې په څلورو دیوالونو کې بند کړي، بې ګټې پلانونه جوړوي، ځانونه متفکر مغزونه ګڼي او ځان ته تبلیغ کوي چې «دا یوازینی معتبره اداره ده. دا له نورو شرکتونو سره مه ګډوئ.» همدغه ټکی دی چې د پرولتاریا سیاستوالو او د زوال کیدونکو بورژوا سیاستوالو ترمنځ بنسټیز توپیر شتون لري. او همدا علت دی چې زمونږ د ادب او هنر د سیاسي خاصیت او د هغه د حقیقت تر منځ بشپړ یووالی شتون لري. د دې ټکی نه منل او د پرولتاریا سیاست او سیاستوالو ته سپکاوی کول یوه تېروتنه ده.

اوس راځئ چې په ادبي او هنري حلقو کې د متحدې جبهې په اړه فکر وکړو. څرنګه چې ادب او هنر د سیاست تابع دي او څرنګه چې نن ورځ د چین په سیاست کې اصلي موضوع د جاپان پر وړاندې مقاومت دی، نو زمونږ د ګوند ادبي او هنري کارګران په لومړی درجه کې اړ دي چې له ټولو غیر کمونیست (د ګوند له خواخوږو او د وړې

بورژوازي لیکوالانو او هنرمندانو څخه نیولې تر ټولو بورژوا او د ځمکې د خاوندانو طبقې لیکوالانو او هنرمندانو سره چې د جاپان په وړاندې د مقاومت پلوي دي) لیکوالانو او هنرمندانو سره د جاپان په وړاندې مقاومت مسلې پر بنسټ سره یو شي. په دوهمه درجه کې، مونږ باید د ډیموکراسۍ پر بنسټ له دوی سره یو شو. خو ځینې لیکوالان او هنرمندان چې د جاپان په وړاندې د مقاومت ملاتړ کوي په دې مسله کې له مونږ سره همغږي نه دي او له همدې امله د دې یووالي دایره به یو څه تنګه شي. په دریمه درجه کې، مونږ باید هڅه وکړو چې د دوی سره د هغو مسلو په اړه یو ځای شو چې د ادب او هنر نړۍ ته ځانګړي دي ـ یانې هغه مسایل چې د ادبي او هنري طریقې او طرز سره تړاو لري؛ مونږ د سوسیالیستي ریالیزم پلویان یو، خو ځینې خلک په دې مسله کې له مونږ سره همغږي نه دي، نو د دې یووالي دایره به نوره هم تنګه شي. په داسې حال کې چې په یوه مسله کې یووالی شتون لري، په بله مسله کې مبارزه او انتقاد شتون لري. که څه هم دا مسایل جلا دي، له بل سره تړاو هم لري، نو آن په هغو مسلو کې چې یووالی هڅوي ـ لکه د جاپان په وړاندې د مقاومت مسله ـ دا په ورته وخت کې مبارزه او انتقاد دواړه دي. په متحده جبهه کې، «له مبارزې پرته یووالی»، یا «له یووالي پرته مبارزه» ـ لکه تسلیمېدل او یا ښي لوري ته تلل یا «کیڼ» سکتاریزم ته لویدل دي، چې په تیرو وختونو کې د ځینو ملګرو سره پیښ شوي ـ چې ناسمې سیاسي تګلارې دي. دا هم د سیاست او هم د ادب او هنر دواړو لپاره صدق کوي.

د بېلا بېلو قوتونو په منځ کې چې د ادبیاتو او هنر په ډګر کې د چین متحده جبهه جوړوي، د وړې بورژوازۍ لیکوالان او هنرمندان یو مهم ځواک دی. د دوی په افکارو او کارونو کې ډېرې نیمګړتیاوې شتون لري، مګر دوی لږ تر لږه انقلاب ته مخه کوي او له زیارکښانو سره نږدې کیږي. له همدې امله، دا زمونږ لپاره په ځانګړې توګه مهمه ده چې د دوی د نیمګړتیاوو په لرې کولو کې ورسره مرسته وکړو او هغې جبهې ته یې جذب کړو چې زیارکښانو ته خدمت کوي.

۴

د ادب او هنر په نړۍ کې د مبارزې یوه بنسیزه طریقه ادبي او هنري نیوکه ده. ادبي او هنري نیوکه باید وده او پراختیا ومومي. لکه څنګه چې ملګرو په سمه توګه یادونه وکړه، تر اوسه پورې په دې برخه کې کار خورا ناکافي دی. ادبي او هنري نیوکه یوه ستونزمنه مسله ده چې ډېرې ځانګړې څېړنې ته اړتیا لري. دلته به زه یوازې پر بنسټیزې مسلې تمرکز وکړم، هغه د نیوکې د معیارونو مسله ده. برسېره پر دې، زه به په لنډه توګه د ځینو ځانګړو مسلو په اړه چې ځینو ملګرو راپورته کړې او د ځینو ناسمو نظرونو په اړه خپل نظر څرګند کړم.

ادبي او هنري نیوکه دوه معیارونه لري: سیاسي معیار او هنري معیار. د سیاسي معیار له مخې، هر هغه څه چې د جاپان په وړاندې د یووالي او مقاومت سره مرسته کوي، هر هغه څه چې خلک اتفاق او د ارادې یووالي ته هڅوي، هر هغه څه چې د ارتجاع خلاف وي او د پرمختګ په ګټه وي، ښه دي؛ برعکس، هر هغه څه چې د جاپان په وړاندې د یووالي او مقاومت سره په ټکر کې وي، هر هغه څه چې د خلکو تر منځ د نفاق او دښمنۍ تخم کري، هر هغه څه چې د پرمختګ مخالف وي او خلک شاته بیایي، بد دي. مګر په وروستي تحلیل کې، د ښه او بد توپیر لپاره باید په څه تکیه وشي؟ په انګیزه (ذهني اهدافو) یا پایله (ټولنیز عمل) باندې؟ ایډیالیستان په انګیزه تکیه کوي او پایله یې له پامه غورځوي، پداسې حال کې چې د میخانیکي ماتریالیزم پلویان په پایله تکیه کوي او انګیزه له پامه غورځوي؛ د دوی په خلاف، مونږ ډیالکټیکي ماتریالیستان د انګېزې او پایلې په یووالي ټینګار کوو. ولس ته د خدمت کولو انګیزه چې پایله یې عبارت ده د ولس د نظر له جذبولو سره، یو بل سره کلک تړاو لري؛ د دې دواړو ترمنځ باید یووالی شتون ولري. د یو فرد یا یوې وړې ډلې ته د خدمت کولو انګیزه ښه نه ده، ولس ته د خدمت انګیزه هم چې پایله یې د

ولس د نظر د جذبول نه وي او هغوي ته ګټه ونه رسوي هم ښه نه ده. د يو ليکوال د ذهني موخو د قضاوت لپاره، چې آيا د هغه انګيزه سمه او ښه ده، مونږ نه بايد د هغه څرګندونو ته، بلکې په ټولنه کې پر ولس د هغه د کار اغيز (په عمده توګه د هغه د آثارو اغيز) ته مراجعه وکړو. ټولنيز پراتيک او د هغې پايلې د ذهني موخو يا انګيزې د قضاوت لپاره معيار دی. زمونږ ادبي او هنري نيوکه بايد له سکتاريزم څخه لرې وي، او مونږ بايد د جاپان په وړاندې د مقاومت لپاره د يووالي عمومي اصولو په پام کې نيولو سره، بايد د ادبي او هنري کارونو شتون چې مختلف سياسي نظرونه منعکس کوي، وزغمو. خو په ورته وخت کې بايد په خپله نيوکه کې پر اصولي دريځ ټينګ پاتې شو او ټول هغه ادبي او هنري آثار چې د ولس ضد، علم ضد، خلکو ضد او کمونستي ضد نظرونه ولري، په کلکه نيوکه او رد کړو، ځکه دغه ادبي او هنري آثار که مونږ يې داسې ونوموو، که د انګيزې له مخې وي او يا هم د پايلو له مخې د جاپان په وړاندې په مقاومت کې يووالی له منځه وړي. د هنري معيار له مخې هر هغه څه چې په هنري کچه نسبتا لوړ وي ښه يا نسبتا ښه دي او هر هغه څه چې په هنري کچه نسبتا ټيټ وي هغه بد يا نسبتا بد دي. ښکاره ده چې دلته بايد په ټولنه باندې د کار اغيز هم په پام کې ونيول شي. هېڅ ليکوال يا هنرمند نشته چې خپل آثار ښکلي نه ګڼي. زمونږ نيوکه بايد دا زمينه برابره کړي چې د هنر بېلابېل آثار له يو بل سره په آزاده توګه سيالي وکړي، خو دا ډېره اړينه ده چې ياد شوي آثار د استتيک علومو له معيارونو سره سم په سمه توګه وڅېړل شي، تر څو هغه هنر چې په نسبي ډول په ټيټه کچه کې وي ورو ورو نسبتا لوړې کچې ته ورسېږي او هغه هنر چې د ولسي مبارزې غوښتنو ته ځواب نشي ورکولای، وکولای شي په داسې هنر بدل شي چې دغه تشه ډکه کړي.

نو دلته دوه معيارونه دي ــ يو سياسي او بل هنري؛ د دې دواړو ترمنځ اړيکه څه ده؟ دا شونې نده چې د سياست او هنر، د عمومي نړۍ‌ليد او د هنري توليد لارو او هنري نيوکې تر منځ د مساوي نښه کېږدو. مونږ نه يوازې د يوه مجرد او مطلق سياسي معيار

لـه شـتون څخـه انـکار کـوو، بلکې د یـوه مجرد او مطلق هنـري معیار له شـتون څخه هم انـکار کـوو. هـره طبقـه پـه هره طبقاتـي ټولنه کې خپـل معیارونه لري، هم سیاسـی او هم هنـري معیارونـه. خـو پـه طبقاتـي ټولنـو کې ټولې طبقې اړ دي چې سیاسـي معیارونه ته لومړی او هنـري معیارونـو ته دویم ځـای ورکړي. بورژوازي په دوامـداره توګه د پرولتاریا ادبـي او هنـري آثـار، کـه څه هـم د دوی هنري کیفیت څومره لـوړ وي ردوي. پرولتاریا هم بایـد پـه خپـل وار سـره د تېـر وخت هر ادبـي او هنري کار په اړه خپلـه رویه تر ټولو لومړی د ولـس پـر وړانـدې د هغـه کار د دریـځ پـر بنسـټ وټاکـي؛ په دې بنسـټ چې دغـه کار په تاریـخ کې پرمختیایي رول درلـود او کـه نـه. ځینـې آثـار چې اصـل کې له سیاسـي پلوه ارتجاعـي ریښـه لري، ممکن یو څه هنري ارزښـت ولري. هرڅومـره چې د دوی مضمون ډېـر ارتجاعـي وي او هـر څومـره چې ډېر هنري ارزښـت ولري هغومره بې خلکو ته زیان زیـات دی او د لـرې غورځـولو وړ دي. د ټولـو زبېښـاکګرو طبقـو چې د زوال پـه حال کې دي د ادب او هنر مشـترکه ځانګړنه د ارتجاعي سیاسـي موضوع او د هغوی د هنري بڼې تـر منـځ تضـاد دی. هغـه څـه چې مونـږ یې غـواړو د امـکان تـر کچې د سیاسـت او هنر یووالـي، د موضـوع او شـکل یووالـي، د انقلابـي سیاسـي موضـوع او هنري بڼې یووالي دی. هغـه کارونـه چې هنـري ارزښـت نلـري، مهمـه نـده چې پـه سیاسـي لحـاظ څومـره مخکښ دي، بې اغیـزې پاتې کیـږي. لـه همـدې املـه، مونږ د هغـو هنرونـو مخالف یو چې د ناسـمو سیاسـي نظرونـو څرګندونـه کـوي، او پـه ورتـه وخت کې مونږ د «شـعار او اعـلان» پـه بڼې د آثـارو د جوړولـو مخالـف هم یـو چې سیاسـي نظرونه یې سـم وي مګر هنـري ځـواک نلـري. مونـږ بایـد د ادب او هنـر پـه دوو جبهو کې مبـارزه وکړو.

دا دواړه تمایـلات زمونـږ د ډېـرو ملګـرو پـه فکرونـو کـې لیدل کیدی شـي. ډېـری ملګري د کارونـو هنـري اړخ لـه پامـه غورځـوي، نـو دوی بایـد د خپـل هنـر کچې لوړولـو ته پام وکـړي. مګـر لکـه څنګـه چې زه ګـورم، پـه اوسـني وخـت کې، دا لا هـم سیاسـي اړخ دی چې ترټولو جدي سـتونزه رامنځته کوي. ځینې ملګري بنسـټیز سیاسـي معلومات نلري،

او په پایله کې، دوی هر ډول ګډوډ فکرونه لري. اجازه راکړئ تاسو ته ځینې مثالونه درکړم.

«د انساني سرشت تیوري.» آیا د انساني سرشت په نوم شی شتون لري؟ البته شتون لري. مګر دا یوازې یو مشخص انساني سرشت دی، نه مجرد انساني سرشت. په یوه طبقاتي ټولنه کې هېڅ انساني سرشت نشته چې طبقاتي ځانګړنه ونه لري. له طبقاتو څخه پورته انساني سرشت شتون نهلري. مونږ د پرولتاریا په انساني سرشت، د ولس په انساني سرشت باور لرو، په داسې حال کې چې د ځمکې خاوندان او بورژوازي د خپلو طبقو په انساني سرشت باور لرو، په دې توپیر سره چې دوی دا موضوع نه یادوي، بلکې د خپلو طبقو انساني سرشت یوازینی موجود انساني سرشت ګڼي. هغه انساني سرشت چې د وړې‌بورژوازۍ ځینې روڼ‌آندي یې ستاینه کوي هم له ولس څخه جلا دی او آن د ولس ضد دی. هغه څه چې دوی یې انساني سرشت بولي، په اصل کې د بورژوازۍ انډیویدوالیزم پرته بل څه نه دي. له همدې امله، د دوی په اند، د پرولتاریا انساني سرشت له هغه انساني سرشت سره چې د دوی د خبرو اترو موضوع ده، مطابقت نلري. دا د «انساني سرشت تیوري» ده چې په ینان کې ځینې خلک غواړي د خپلې خوښې د ادب او هنر تش په نامه تیوري بنسټ پرې کېږدي. دا نظریه په بشپړه توګه ناسمه ده.

«د ادب او هنر د خوځښت اصلي سرچینه مینه ده، د بشریت مینه.» البته، کولای شو مینه د حرکت د سرچینې په توګه ومنو، مګر یوه بله سرچینه هم شتون لري چې ډېره اصلي ده. مینه د فکري پدیدې په توګه د عیني پراتیک محصول ده. زمونږ د خوځښت سرچینه په اصل کې د فکر څخه نه ده، بلکې له عیني پراتیک څخه ده. زمونږ لیکوالان او هنرمندان چې د روڼ‌آندو له لیکو څخه راپورته شوي، له پرولتاریا سره ددې لپاره مینه لري، ځکه ټولنې دوی په دې پوه کړي چې له پرولتاریا سره ګډ برخلیک لري. د جاپاني امپریالیزم په وړاندې زمونږ کرکه له دې حقیقت څخه راځي چې دوي زمونږ

سره ظلم کوي. په نړۍ کې بې دلیله مینه او کرکه نشته. خو په اصطلاح د «بشریت سره مینې» په اړه له هغه وخته چې بشریت په طبقو ویشل شوی، داسې عمومي او هر اړخیزې مینې هېڅکله شتون نه لرلو. د تېرې زمانې ټولو واکمنو طبقو د دغه ډول مینې تبلیغ خوښاوه، ډېرو «حکیمانو او هوښیارانو» هم همداسې کول، خو تر نن ورځې پورې چا په عمل کې دا کار ندی لیدلی، ځکه په یوه طبقاتي ټولنه کې دا کار ناشونی دی. د بشریت ریښتینې مینه به یوازې هغه وخت ممکنه وي چې په ټوله نړۍ کې طبقې ختمې شي. طبقو ټولنه په څو نه پخلاکېدونکو مخالفو ډلو ویشلې ده. د طبقو په له منځه وړلو سره به د ټول بشریت مینه راڅرګنده شي، اوسمهال داسې مینه شتون نه لري. مونږ نشو کولی له خپلو دښمنانو سره مینه وکړو، مونږ نشو کولی د ټولنې بدمرغیو سره مینه وکړو، زمونږ موخه د دوی له منځه وړل دي. روغ عقل خو همدا حکم کوي؛ آیا دا شونې ده چې زمونږ ځینې لیکوالان او هنرمندان لاهم په دې حقیقت نه وي پوهیدلي؟

«ادبي او هنري آثار تل رڼا او تیاره په مساوي او برابره توګه وړاندې کوي.» دا ادعا د فکري ګډوډۍ نښه کوي. دا سمه نه ده چې ادب او هنر تل دا کار کړی دی. دکوچنۍ بورژوازۍ ډېری لیکوالانو هېڅکله روښنایي نه ده موندلې. د دوی آثار یوازې تیاره ښکاره کوي او د «بربنډونکو ادبیاتو» نوم پې غوره کړی. د دوی ځینې آثار یوازې د ناهیلۍ او له ژوند څخه ناامیدۍ خپرولو ته ځانګړي شوي دي. برعکس، د شوروي ادب د سوسیالیزم د جوړولو په وخت کې روښنایي بیانوله. البته، دکار نیمګړتیاوې او منفي مخونه یې هم ښودل، مګر یوازې د دې لپاره چې روښنایي لا ښه وښودل شي، نه دا چې دوی د «نیمې څخه نیمایي» په تناسب کې وړاندې کړي. بورژوا او د ارتجاع دورې لیکوالانو او هنرمندانو، انقلابي خلک د یاغیانو په توګه او ځانونه سپېڅلي ښودل ـ دا د رڼا او تیارې د بدلولو ځای دی. یوازې ریښتیني انقلابي لیکوالان او هنرمندان کولی شي دا مسله په سمه توګه حل کړي چې څه باید ولمانځل شي او څه

بایـد افشـا شـي. ټـول هغه تور قوتونـه چې ولس ته زیان رسـوي باید بربنډ شـي او د ولس ټولـې انقلابـي مبـارزې بایـد ولمانځل شـي ـ دا د انقلابي لیکوالانـو او هنرمندانو اصلي دنده ده.

«د ادب او هنـر دنـده تـل افشـا کـول دي.» دا ادعـا لکـه د پورتنـۍ ادعا په څیـر، د تاریخ له علـم څخـه ناپوهـۍ ته اشـاره کوي. پورته مـو وویل چې ادب او هنر هېڅکله یوازې افشـا کولـو پـورې محـدود نـه دي. د انقلابي لیکوالانو او هنرمندانو د افشـا کولو برید هېڅکله پـه ولـس نـده، بلکـې یـوازې تیري کوونکـي، زبېښـاکګر او زورواکي او په خلکـو باندې د هغـوی نـاوړه اغیـز تـر برید لاندې نیسـي. البته، ولس کې هم نیمګړتیاوې شـته چې باید پـه خلکـو او پـر ځـان نیوکې له لارې حل شـي. دا پر نورو او ځان نیوکه کـول د ادب او هنر یـو لـه مهمـو دنـدو څخـه ده. خـو دا پـه هېڅ توګه نشـي کیدای چې د «خلکو افشـا کولو» پـه نـوم ونومـول شـي. د ولـس پـه اړه مسـله یـوازې د هغـوي د زده کـړې او د دوی د کچـې لـوړول دي. دا یـوازې د انقـلاب ضـد لیکـوالان او هنرمنـدان دي چې خلـک د «مورزادي احمقانـو» پـه توګـه بیانوي او انقلابي خلک د «ظالم یاغیانو» په توګه ښـیي. مونږ لاهم د طنـز پـه دورکـې یـو او مونږ لاهم د لوسـیون لیکلو طریقـې ته اړتیا لرو. «لوسـیون، چې د تورو ځواکونو تر واکمنۍ لاندې و او د بیان له آزادۍ څخه بې‌برخې و، د جګړې لپاره د طنزیـه مقالـو لیکلـو لپاره له ملنډو او طنز څخه د کار اخیسـتلو حق درلـود. مونږ هم باید پـر فاشیسـتانو، چینـي مرتجعانو او هر هغـه څه چې خلکو ته زیان رسـوي ملنډې ووهو. خـو د شـان شنسـی ـ ګانسوـ نین‌سـیا پـه سـرحدي سـیمه او د جاپان ضد پوځـي اډو کې چې د دښـمن د جبهې شـاته پرتې دي، هلتـه انقلابـي لیکـوالان او هنرمنـدان له بشـپړې آزادۍ او ډیموکراسـۍ څخه برخمن دي او دا آزادي او ډیموکراسـي یوازې د انقلاب ضد عناصـرو څخـه اخیسـتل شـوی، د طنـزي مقالو بڼـه باید په سـاده ډول د لوسـیون د مقالو پـه بڼـه نـه وي. مونږ کولی شـو په لـوړ غږ خبرې وکړو او د پټو او غیر مسـتقیم څرګندونو څخـه کار اخیسـتلو تـه اړتیـا نشـته چې ولـس ته بې درک کـول سـتونزمن وي. خو خپله د

ولس په اړه نه د هغوي د دښمنانو په اړه، لوسیون هېڅکله د «طنزیه لیکنو» په دوره کې په انقلابي خلکو یا انقلابي ګوند باندې ملنډې یا برید نه دی کړی او دا طنزي لیکنې له هغو مقالو څخه چې د دښمن په وړاندې لیکل شوي دي په بشپړ ډول توپیر درلود. پورته مو وویل چې د خلکو په نیمګړتیاوو باید نیوکې وکړو، خو دا کار باید په داسې حال کې وکړو چې په رښتیا هم د ولس په مورچل کې یو او زمونږ نیوکه باید د خلکو څخه د دفاع او هغوی ته د ښوونې او روزنې له هیلې ډکه وي. که مونږ له خپلو ملګرو سره داسې چلند وکړو لکه څنګه چې مونږ له دښمن سره کاوه، نو مونږ د دښمن په مورچل کې یو. آیا د دې مانا دا ده چې مونږ طنزي لیکنې ردوو؟ نه، طنزي لیکنې به تل اړینې وي. مګر د طنزي لیکنو څو ډولونه شتون لري: هغه ډول چې دښمن په نښه کوي، هغه ډول چې متحدین په نښه کوي، او هغه ډول چې زمونږ لیکې په نښه کوي، او په دې هر یو کې، مونږ باید توپیر وکړو. مونږ په ټولیز ډول د طنزي لیکنو مخالف نه یو، مګر ددې مخالف یو چې له طنزي لیکنو څخه ناوړه ګټه واخیستل شي.

«زه د ستاینې او غوړه‌مالۍ اراده نه لرم؛ هغه کارونه چې د رښا ستاینه کوي اړینه نه ده چې لوړ وي، او هغه کارونه چې تیاره بیانوي اړینه نه ده چې بې‌ارزښته وي.» دوه امکانات شته: که تاسو د بورژوازۍ لیکوال یا هنرمند یاست، تاسو به د پرولتاریا ستاینه ونه کړئ، مګر د بورژوازۍ ستاینه به وکړئ؛ که تاسو د پرولتاریا لیکوال یا هنرمند یاست، تاسو به د بورژوازۍ ستاینه ونه کړئ، مګر د پرولتاریا او کارګرانو ستاینه به وکړئ. هغه آثار چې د بورژوازي «روښانه اړخونه» تعریفوي، اړینه نه ده چې لوړ وي، او هغه آثار چې د هغې تیاره اړخونه بیانوي، اړینه نده چې بې‌ارزښته وي؛ هغه آثار چې د پرولتاریا د روښانه اړخونو ستاینه کوي بې‌ارزښته نه دي، مګر هغه آثار چې د پرولتاریا په اصطلاح «تیارې» بیانوي یقینا بې‌ارزښته دي ـ آیا دا حقایق د ادب او هنر ټول تاریخ نه دي تایید کړي؟ ولې باید مونږ تاریخ جوړونکي خلک ونه ستایو؟ ولې باید پرولتاریا، کمونیست ګوند، نوې‌ډیموکراسي او سوسیالیزم ونه ستایو؟ خو

داسې خلک هم شته چې د ولس د ژغورنې لپاره هېڅ لېوالتیا نه ښيي او د پرولتاریا او د هغوي د مخکښو مشرانو د مبارزې او بریاوو په وړاندې د نندارچیانو په څېر دي، چې یو خواته ناست وي او هر څه بې چې پر وړاندې تېرېږي دوی ته توپیر نه کوي؛ هغه څه چې دوي ورته لېوالتیا لري، هغه څه چې دوی هېڅکله د هغې تبلیغ کولو څخه نه ستړي کېږي، هغه د دوی خپل ځان او ځینې وختونه د دوی د هم‌مسلکانو کوچنۍ ډلې څخه یو څو تنه دي. ښکاره خبره ده چې دغه د وړې‌بورژوازۍ اندیویدوالیستان د انقلابي خلکو د خطرناکو او ښه کارونو ستاینې څخه ډډه کوي، په جګړه کې د هغوی د هڅولو او د بریا د باور د لوړولو لپاره زړه نازړه دي. دا ډول خلک په حقیقت کې د لالچي وینو (موریانه) پرته بل څه نه دي چې د انقلاب په لیکو کې یې نفوذ کړی دی. انقلابي ولس داسې «سندرغاړو» ته بالکل اړتیا نه لري.

«دلته د دریځ اخیستلو مسله نده؛ زما طبقاتي دریځ سم دی، زما نیت ښه دی او زه ښه پوهېږم، یوازې زما وینا نیمګړتیا لري او همدا ده چې اوس د کار پایله بده راوتلې ده.» ما مخکې هم د دیالکتیک ماتریالیزم له تیورۍ څخه د انګیزې او پایلې په اړه خبرې کړې دي، اوس غواړم پوښتنه وکړم: آیا د پایلې ستونزه د دریځ ستونزه نه ده؟ که څوک په عمل کې یوازې خپله انګیزه تعقیب کړي او د عمل پایلې ته پام ونه کړي، هغه به د هغه ډاکټر په څېر وي چې یوازې نسخې لیکي پرته له دې چې وګوري د هغه نسخې څومره ناروغان وژلي دي. یا دا به د هغه سیاسي ګوند په څېر وي چې یوازې اعلامیې خپروي پرته له دې چې د هغوي عملي کولو په اړه فکر وکړي. اجازه راکړئ پوښتنه وکړم چې آیا دا ډول دریځ سم دی؟ آیا دا ډول نیتونه ښه دي؟ البته که څه هم د کار د پایلې وړاندوینه شوي وي ممکنه ده چې بیا تېروتنه وشي، خو که واقعیتونه ثابت کړي چې پایله بې منفي وي او بیا هم پر هماغه لاره ټینګار وشي، نو بیا هم ویلای شو چې ښه نیت مو لرلو؟ د سیاسي ګوند یا ډاکټر په اړه قضاوت کولو کې، باید د دوی پراتیک، د دوی د عمل پایلې وګوري. د لیکوال په اړه قضاوت هم باید همداسې

وي. هغه څوک چې واقعاً ښه نیت لري باید د عمل پایلې په پام کې ونیسي، د لاسته راغلو تجربو غورچاڼ وکړي او میتودونه مطالعه کړي یا ــ د ادبي او هنري تخلیق په صورت کې ــ د بیان طریقه ولولي. هغه څوک چې واقعاً ښه نیت لري باید د خپل کار نیمګړتیاوې او تیروتنې په پوره صداقت سره نیوکه وکړي او د حل کولو هوډ یې وکړي. همدا لامل دی چې کمونستانو د خپل ځان څخه د نیوکې طریقه په خپل وخت عملي کړه. یوازې دا ډول دریځ سم دی. یوازې په دې جدي عملي بهیر کې، چې د تیرو وخت مسولیت‌احساس تر اغیز لاندې وي، کولای شي په تدریجي ډول وپوهیږي چې کوم دریځ سم دی او په کراره یې څنګه ترلاسه کړي. که څوک په عمل کې دې لوري ته نه ځي، که څوک په دې بسنه وکړي چې په پریکنده غږ ووایي: «زه پوهیږم»، ښکاره ده چې هغه په هېڅ شی نه پوهیږي.

«د مارکسیزم مطالعې ته زمونږ بلنه د دې مانا ده چې د ادبي او هنري تخلیق د میتود په اړه د ډیالکټیک ماتریالیزم تېروتنه تکرار شي، دا د خلاقو وړتیاوو د ټکولو په مانا ده.» مونږ مارکسیزم په دې خاطر مطالعه کوو، چې نړۍ، ټولنې، ادب او هنر ته د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم له نظره وګورو نه دا چې د ادبي او هنري آثارو د لیکلو پر ځای د فلسفې درسونه په لیکلو لاس پورې کړو. لکه څنګه چې مارکسیزم د فزیک علم د اټوم او الکترون تیوري بیانوي مګر نشي کولی د هغې ځای ونیسي، په ادبي او هنري تخلیق کې ریالیزم رانغاړي خو د هغه ځای نشي ډکولی. خالي او وچ ګنګ فورمولونه تخلیقي وړتیاوې له منځه وړي او نه یوازې دا وړتیاوې بلکې پخپله مارکسیزم هم له منځه وړي. دګماتیک «مارکسیزم» هېڅکله مارکسیزم نه دی بلکه د مارکسیزم ضد دی. نو آیا مارکسیزم هېڅ تخلیقي وړتیا له منځه نه وړي؟ ولې، البته، فیوډالي، بورژوازي، وړېبورژوازی، لیبرالیستي، اندیویدوالیستي، ناهیلیستي تخلیقي وړتیاوې او همدارنګه د هنر لپاره هنر، اشرافي، زوال سره مخ، بدبین او نور غیر ولسي او غیر پرولتاري تخلیقي وړتیاوې له منځه وړي. که دا ډول وړتیاوې په پرولتاریا لیکوالانو

او هنرمندانو کې شتون ولري، آیا هغه باید له منځه ولاړ نشي؟ زما په اند، ولې، دا کار باید په خورا پریکنده ډول ترسره شي، ځکه د دوی په له منځه وړلو سره، یو نوی بنسټ رامنځته کېږي.

۵

دلته بحث شوي مسایل په ینان کې زمونږ په ادبي او هنري حلقو کې شتون لري. دا څه په ګوته کوي؟ دا په ډاګه کوي چې زمونږ په ادبي او هنري حلقو کې لا هم د کار غلط طرزونه شتون لري، او زمونږ ملګري لا هم په ډیرو نیمګړتیاوو لکه ایډیالیزم، دګماتیزم، پوچو خیالاتو، ډیرو خبرو، د عمل څخه بې‌غوري، د خلکو څخه جلاوالي او داسې نورو کې راګیر دي. دا ټول د کار طرز سمون لپاره یو اغیزمن او جدي غورځنګ رامنځته کولو ته اړتیا پیدا کوي.

زمونږ ډېر ملګري لا هم د پرولتاریا او وړې‌بورژوازي تر منځ د توپیر په اړه روښانه نظر نه لري. دګوند ډېرى غړي یوازې د تشکیلاتو له لحاظه دګوند غړي دي، خو تر اوسه په بشپړ ډول له ایډیولوژیک پلوه له‌ګوند سره نه دي یوځای شوي. د دوی مغزونه لاهم د زبېښاګرو طبقو له ککړتیا څخه ډک دي. دوی نه پوهیږي چې پرولتاریایي، کمونیزم یا دګوند ایډیالوژي څه شی ده. دوی داسې فکر کوي: پرولتاریایي ایډیالوژي څه ده؟ دا هماغه «پخوانۍ اوتې‌بوتې» دي. دوی خبر نه دي چې د دې «اوتو بوتو» زده کول دومره آسانه ندي. آن داسې خلک هم شته چې هېڅکله به په ټول ژوند کې د کمونیست کیدو نښه نه لرله، او د دوی کار هغه وخت پای ته رسیږي کله چې دوی ګوند پرېږدي. نو که څه هم زمونږ ګوند او لیکې په عمده توګه له پاکو او صادقو عناصرو څخه جوړې شوي دي، د دې لپاره چې انقلابي حرکت په داسې ډول رهبري شي چې ښه وده وکړي او خپلې موخې ته ګړندۍ ورسیږي، مونږ هم باید خپل ګوند

او لیکې هم له ایډیالوژیک او هم سازماني پلوه په جدي توګه منظم کړو. په سازمان کې د نظم د رامنځ ته کولو لپاره، په ایډیالوژیکي ډګر کې د نظم رامنځته کول اړین دي، د غیر پرولتاریا ایډیالوژۍ په وړاندې د پرولتاریایي ایډیالوژۍ مبارزه باید وده او پراختیا ومومي. له نن څخه د ینان په ادبي او هنري حلقو کې ایډیالوژیکه مبارزه روانه ده او دا ډېره اړینه ده. هغه روڼآندي چې له وړېبورژوازي څخه راوتلي دي تل هڅه کوي چې د ادب او هنر په ګډون له ټولو وسیلو څخه په ګټهاخیستنې سره خپل ځان غوره ښکاره کړي، خپل نظر خپور کړي او غواړي ګوند او نړۍ د خپل لید له مخې بدله کړي. په داسې حالت کې، دا زمونږ دنده ده چې غږ وکړو: ای «ملګرو»! داسې نه شي کیدای! پرولتاریا به ستاسو سره همغږي نشي! ستاسو پیروي کول د لویو زمیندارانو او سترې بورژوازۍ طبقې پیروي کول دي، دا د ګوند او هیواد لپاره د مرګ ګواښ مانا لري. نو له چا باید پیروي وشي؟ ګوند او نړۍ یوازې د پرولتاریا د مخکښ لید له مخې بدلیدلی شي. مونږ له خپلو ملګرو څخه چې په ادبي او هنري حلقو کې دي هیله لرو چې د دې لوی بحث په ارزښت پوه شي او په فعاله توګه په دې مبارزه کې برخه واخلي تر څو چې زمونږ ټول ملګري سالم عناصر شي، تر څو چې زمونږ لیکې په ایډیالوژیکي او سازماني توګه یو اصیل یووالي ته ورسیږي او کلکوالی ومومي.

زمونږ ډېر ملګري د فکري ګډوډۍ له امله د انقلاب د اډو او د ګومیندان تر کنټرول لاندې سیمو کې توپیر نه شي کولای او له همدې کبله ډېرې تېروتنې کوي. ډیری ملګري چې دلته راغلي دي په مستقیم ډول د شانګهای له لوړپوړیزو ودانیو څخه راغلي دي[۱۰]؛ دغو ملګرو چې د انقلابي اډو ته د راتلو په نیت دغه کورونه پریښي، نه یوازي له یوې سیمې څخه بلې ته، بلکي له یوه تاریخي دور څخه بل ته تللي دي. هلته یوه نیمهفیوډالي او نیمهاستعماري ټولنه د لویو ځمکوالو او لوېبورژوازي تر واکمنۍ لاندې ده. دلته د پرولتاریا په مشرۍ یوه نوې انقلابي او ډیموکراتیکه ټولنه ده. انقلابي اډو ته راتګ داسې دور ته د ننوتلو په مانا ده چې د چین څو زره کلن تاریخ

هېڅکله نه دی لیدلی، داسې دوره چې واک د خلکو په لاس کې ده. هغه خلک چې زمونږ په شاوخوا کې دي، هغه کسان چې زمونږ تبلیغات د هغو لپاره دي. زوږ دور تېر شوی او هېڅکله به بیرته راستون نشي. له همدې امله، مونږ باید پرته له کوم ځنډه د دې نویو خلکو سره یوځای شو. که زمونږ ملګري چې د نویو خلکو په منځ کې ژوند کوي، لکه څنګه چې مخکې مو وویل، «پېژندګلوي او درک نه لري» او د «هغو اتلانو په خبر چې د خپل هنر د ښودلو لپاره هېڅ ډګر نه لري» پاتې شي، کله چې کلیو ته لاړ شي، نو له ډېرو ستونزو سره به مخ شي. دوی به آن دلته، په ینان کې هم له ډېرو ستونزو سره مخ وي. ښایي ځینې ملګري له ځانه سره ووایي: غوره ده چې د «سترې جبهې تر شا»[۱۱] لوستونکو ته یو څه ولیکم او دا هغه کار دی چې زه پرې ښه پوهیږم او دا کار «ملي ارزښت» لري. دا په بشپړه توګه غلط نظر دی. «سترې جبهې تر شا» هم بدلون راځي. هلته لوستونکي دې ته چمتو نه دي چې په پرله‌پسې ډول د انقلاب د اډو لیکوالان ورته پخوانۍ کیسې تکرار کړي، بلکې تمه لري چې له نوې نړۍ او د نویو خلکو په اړه ورسره خبرې وشي. نو هر څومره چې په مستقیم ډول د انقلاب د اډو د خلکو لپاره کوم کار ولیکل شي، هغومره به یې ملي ارزښت زیات وي. د فادیف په «ماتې»[۱۲] کې، یوازې د پارتیزانانو د یوې کوچنۍ ډلې په اړه خبرې شوي، او دا اثر د لرغونې نړۍ د لوستونکو د ذوق پوره کولو لپاره نه دی رامنځته شوی، بلکه په ټوله نړۍ کې اغیزه درلوده، لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ لږترلږه دغه اثر په چین کې خورا لوی اغیزه درلوده.

چین مخ په وړاندې روان دی، شاته نه راستنیږي، او د انقلاب د اډو لخوا رهبري کیږي، نه د وروسته‌پاتو سیمو لخوا. زمونږ ملګري، د خپل کاري طرز د سمون په بهیر کې، لومړی باید دا بنسټیز ټکی درک کړي.

څرنګه چې دا اړینه ده چې د نوي عصر، د خلکو د دور سره یوځای شو، نو د فرد او ولس ترمنځ د اړیکو مسله باید په سمه توګه حل شي. راځئ چې د لوسیون د شعر دا

دوه بیتونه خپل شعار جوړ کړو:

زه خپلې وریځې پورته کشم کوم او د هغو زرګونو پر وړاندې
چې ګوته پې ماته نیولې ده، بې پروا ودرېږم،
سر ټیټوم او د زړه له تله د ماشوم غوا کېږم(۱۳)

دلته «زرګونه» زمونږ دښمن ته اشاره کوي، او مونږ به هېڅکله د دښمن په وړاندې سر ټیټ نه کړو، که هغه څومره ځناور وي. دلته «ماشوم» د پرولتاریا او د ولس سمبول دی. ټول کمونستان، ټول انقلابیان، ټول انقلابي ادبي او هنري کارکوونکي باید له لوسیون څخه بېلګه واخلي، دوی باید د پرولتاریا او د ولس «غوا» وي. تر پایه پورې د خپلو دندو ترسره کولو لپاره باید خپله ملا ټیټه کړي. د دې لپاره چې رونړآندي د خلکو سره یوځای شي، د دوی خدمت وکړي، دوی باید له داسې پروسې څخه تیر شي چې دوی او خلک یو بل سره وپیژني. دا پروسه ممکنه ده او دا یقیني ده چې دا به پرته له ډیرو کړاوونو او ستونزو څخه تیره نشي، مګر که تاسو په بشپړ ډول هوډ ولرئ ، تاسو به موخې ته ورسیږئ.

نن مې یوازې زمونږ د ادبي او هنري خوځښت د بنسټیز لوري په تړاو په څو مسایلو خبرې وکړې، بیا هم ډېر ځانګړي مسایل شته چې ژورې مطالعې ته اړتیا لري. زه ډاډه یم چې تاسو، ملګري، د ښودل شوې لار تعقیب لپاره هوډمن یاست. زه ډاډه یم چې تاسو به وکولی شئ د خپل کاري طرز د سمون په بهیر کې خپل ځان او خپل هنر ته بدلون ورکړئ او د یوې اوږدې مطالعې او کار په لړ کې به تاسو وکولی شئ ډیری نامتو اثار رامنځته کړئ چې د خلکو لخوا به پې په لیوالتیا سره هرکلی وشي، تاسو به وکولی شئ چې ادبي او هنري غورځنګ د انقلاب په اډو او په ټول چین کې نوي او روښانه پړاو ته ورسوئ.

یادښتونه

(۱) لنین ته مراجعه وکړئ: «د ګوند سازمان او د ګوند ادبیات». لنین په دې لیکنه کې د پرولتاریا ادب ځانګړنې لیکي انځوروي او لیکي: «دا ادبیات به یو آزاد ادبیات وي ځکه چې هغه څه چې په پرله پسې توګه بې لیکو ته نوی ځواک ورکوي هغه به د ګټه‌غوښتنه او ځای‌غوښتنه نه وي، بلکې د سوسیالیزم مفکوره او له زیارکښانو سره مینه وي. دا ادبیات به یو آزاد ادبیات وي، ځکه دا ادبیات به د کومې ځانګړې مړې ښځې ته او یا هغو «لس زره ښاغلو» ته چې په چاقۍ اخته وي، خدمت نه کوي بلکې د لکونو او میلیونونو زیارکښو خلکو خدمت کوي چې د هېواد د تاج سر دي، ځواک او راتلونکی دوی دي. دا ادبیات به یو آزاد ادبیات وي چې د سوسیالیستي پرولتاریا د تجربې او ژوندانه کار سره به د انسان د انقلابي فکر وروستۍ کلمه جوړوي او په دوامداره توګه به د تیرو تجربو د متقابل اغیز لامل شي (علمي سوسیالیزم چې سوسیالیزم یې له خپل تصوراتي ابتدایي څخه جلا کړ. ښه یې ورکړه او د تکامل امکانات یې په هراړخیز ډول ورته برابر کړل) او اوسنۍ تجربه (د کارګرو ملګرو اوسنۍ مبارزه) به وي.»

(۲) لیان‌شي‌چیو، د انقلاب ضد ګوند ـــ د ناسیونال سوسیالیست ګوند غړي، د هنر او ادب په ډګرونو کې د امریکا د ارتجاعي بورژوازي د افکارو په خپرولو کې اوږده موده تېره کړه، هغه په قهر او کرکې سره د انقلاب پر وړاندې مبارزه او د انقلابي ادب او هنر بدنامولو هڅه یې وکړه.

(۳) وروسته له هغې چې جاپان په ۱۹۳۷ کې بیجینګ او شانګهای ونیول، جوزوه‌ژن او جان‌زی‌پینډ جاپاني یرغلګرو سره یوځای شول.

(۴) لوسیون: «د کیڼ اړخو لیکوالانو اتحادیې په اړه زما نظریات» په «دوه زړونه» ټولګه کې، کلیات، چیني نسخه، څلورم ټوک.

(۵) د لوسیون د «مرګ» قطعه د «چیه‌جیه‌ټین کې د مقالو وروستۍ ټولګه» «ضمیمه» وګورئ، کلیات، چیني نسخه، ۶ ټوک.

(۶) «کوچنۍ شپون» په چین کې یو ډېر عام ننداره ده چې یوازې دوه رولونه لوبوي: د شپونکي رول او د بزګرې انجلۍ رول؛ د دې ټوټې موضوع په اصل کې یو بحث دی چې د دې دوو کسانو لخوا د سندرې په بڼه ترسره کیږي. د جاپان په وړاندې د مقاومت د جګړې په پیل کې، د نوي متن سره دا ننداره د جاپان په وړاندې د پروپاګند لپاره کارول شوې وه، او دا د یو څه مودې لپاره خورا ښه هرکلي سره مخ شوه.

(۷) د پورتنیو شپږو کلمو لیکلو لپاره چیني هیروګلیفونه نسبتا ساده دي او یوازې یو څو کرښې لري.

لـه همـدې املـه، دوی معمـولا د لومړنـي ښـوونځي پـه کتابونـو کې د چینـي ژبې پـه لومړیـو درسـونو کې کارول کیده.

(۸) «د پسـرلي واوره» او «بدرنګـو سـندرې» د چـو ولایـت د دوو سـندرو نومونـه دي (له میـلاد څخه درې پېړۍ وړانـدې). د لومـړۍ سـندرې موسـیقي د دویمـې سـندرې د موسـیقۍ پـه پرتلـه پـه لـوړه کچـه وه. د «دشـهزاده جاومیـن نثـر او شـعرونو انتخـاب» او همدارنګـه «شـاهزاده چـو تـه د سـنیو ځوابونـه» کـې ویل شـوي چې د چـو ولایـت پـه پلازمینـه کې یو چـا د «پسـرلي واورې» غبر پیل کـړ او یوازې څـو درجنه خلک ورسـره یوځـای شـول، خـو کلـه بـې چـې د «بدرنګـو سـندرې» ویل پیـل کړه، پـه زرګونو خلک له هغه سـره سـندرې ویلو تـه راغلل.

(۹) لنیـن تـه مراجعـه وکـړئ: «د ګونـد سـازمان او د ګونـد ادبیـات». لیکـوال لیکـي: «ادبیـات بایـد د ټول پرولتاریـا یـوه برخـه شـي، د ټولنیـز ډیموکراسـۍ په لـوی میکانیزم کې د «څـرخ او پیچ» په توګه، یو داسې میکانیـزم چـې واحـد او نـه جـلا کیدونکـی دی او د ټولې کارګرې طبقې پوه مخکښـانو لخـوا کارول کیږي.

(۱۰) موخـه د شـانګهای پـه ودانیـو کـې د کوچنیـو خونـو څخـه ده، چـې معمـولا د کـور د شـا د زینـو پـه څنـګ کـې جوړیږي. دا کوټې ډېرې تنګې او تیارې وې او کرایه یې نسـبتاً کمـه وه. لیکوالان او هنرمندان، روڼآنـدي او د دفتـر کارکونکـي چـې ډېـر غریـب وو، دا ډول کوټـې پـه کرایه نیولې.

(۱۱) د جاپـان پـر ضـد د مقاومـت د جګـړې پـر مهـال «د سـترې جبهې شـاته» د چین په جنـوب لویدیځ او شـمال لویدیـځ کې پراخـې سـیمې وې چې د جاپاني یرغلګـرو له خوا نـه وې نیول شـوې او د ګومیندان تر څارنې لاندې وې. دا اصطلاح د «کوچنۍ جبهې شـاته» اصطلاح سـره مخالفه وه، کوم چې د جاپان ضد اډو تـه اشـاره کـوي چـې د دښـمن د جبهې شـاته موقعیت لري او د کمونسـت ګوند لخـوا رهبري کیږي.

(۱۲) «ماتـې» د پخوانـي شـوروي د مشـهور لیکـوال ا. فادیـف اثـر دی چـې پـه ۱۹۲۷ کـې خپـور شـو او په چینایـي ژبـه د لوسـیون لـه خوا وژباړل شـو. دا اثر د سـایبریا د کارګرانو، بزګرانو او انقلابـي روڼ اندو څخه جـوړه شـوې د پارتیزانانـو د یـوې ډلې جګړه ښـیي، چې د شـوروي اتحـاد د کورنۍ جګړې پـه جریان کې د انقلاب ضد ډلـې په وړانـدې کار کاوه.

(۱۳) لوسـیون تـه مرجعـه وکـړئ: «پـه خپـل ځـان ملنـډې وهل»، پـه «له کلکسـیون څخه بهر کلکسـیون» کـې، کلیـات، چیني نسـخه، ۷ ټوک.

انتشارات محسن
Mohsin Publications